# محمد موسی شفیق

## له مدرسې تر صدارته

فاطمه احمد گیلاني
ژباړن: لطف الله لطف



# د پیل خبره

شهید موسی شفیق د افغان روښنفکرۍ او معاصر فکري تاریخ نوموتې څېره وه. ستر خالق پر شفیق سیاسي بصیرت، دیني پوهه، کرزما او تقوی پیرزو کړې وه.

هغه عرفان، حنفي فقه او د بخارا او سمرقند تجربې او د لودیځې نړۍ سیاسي زده کړې داسې سره ترکیب کړې، چې په پایله کې یې پر سیاسي او ټولنیزه منځلارې ښته بدل شو او د پریمانه افغاني سیاستوالو په څېر د افراط او تفریط ښکار نه شو، نه د سلفیت او وهابیت په لومو کنښوت، نه دودیزو خرافاتو ته پاتې شو. نوموړی د اسلامي، شرقي او غربي پوهې یو عظیم ترکیب دی او عمیق فکر یې د متفاوتو زده کړو او تجربو نتیجه ده.

هغه اشرافي ریښې نه درلودلې، مگر پر افغانستان کلک باور او د وطن دخدمت کلک هوډ د سیاست لوړو ته ورساوه.

شفیق د افغانستان په سیاسي ادانه کې درې میراثه پرېښي: د وطن د مالکیت احساس، وطن محوره فکر، او عمل. نوموړی باوري و، چې همدا درې میراثونه کولای شي افغانستان له سیاسي بدمرغیو راوباسي.

شفیق د اسیا په مدرسه کې استاد و او غوښتل یې چې د سیمې تحولاتو ته د افغانستان له ادرسه ځواب پیدا کړي. نوموړي هیله درلوده چې افغانستان پر سم مسیر روان کړي، مګر د حاکم وقت عجولانه پریکړو او افغانستان ته د زیرځواکونو ناکاره ارادو د شفیق ملي هیلې مړاوې کړې.

آن ویل کیږي، چې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د یرغل یو لامل د موسی شفیق پروګرامونه وو، که شفیق او پاچا دواړه پاتې وای بیا نو روسانو او د دوی پلویان دا وخت نه شو پیدا کولای، چې پر افغانستان برید وکړي.

شفیق ارزو درلوده، چې سیاسیون د خپلو شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي. هغه غوښتل د افغانستان کورني او بهرنی سیاست پر تحرک راولي. شفیق د تقابل پر سیاست باور نه درلود او هڅه یې کوله چې د هېواد د پرمختګ او سیاسي ټیکاو لپاره سترو زبرځواکونو لکه روسیې او امریکا سره فلسفي تفاهم ته ورسیږي. ګاونډیانو سره د مشترکو ګټو درک هغه مهمه مسله وه چې شفیق پرې باور درلود، په همدې موخه یې، د ډیرو فشارونو سربېره، له ایران سره د هلمند اوبو په اړه سخته خو بریالۍ معاهده وکړه. شفیق ځو بعدي شخصیت درلود، او د خپل فکري انسجام په برکت یې افغانستان لپاره لوی او ګټور کارونه وکړل. شفیق پر ولسواکۍ کلک باور درلود او د ولسواکۍ د تحقق لپاره د نوموړي کلک هوډ او هڅې ددې لامل شوې چې د اساسي قانون او دیموکراسۍ په لسیزه کې د یو اغېزناک شخص په څېر مطرح شي.

جنایتکارانو محمد موسی شفیق ترور کړ او افغان ملت یې د نوموړي له معتدله او منځلاره علمي او سیاسي هڅو بې برخې کړ. شفیق داسې مهال له افغان ملت واخېستل شو چې د افغانستان روښانه راتلونکي لپاره یې د هیلو غوټۍ تازه پرانېستل شوې وې. نوموړي د هېواد په کچه ملي مسلو سره عقلاني برخورد کاوه او همدې ټکي باوري کړی و چې هڅې به یې افغانستان ته سیاسي

ثبات او پرمختیا ور په برخه کړي. افغانستان اوسمهال د ترهگرۍ د کاذبې جگړې ښکار دی، مگر ددې جگړې د تداوم یو ستر لامل په سیاسي ډگر کې د موسی شفیق په څېر د عقلانې او افغان محوره هڅو کمښت دی. په حیرانیتا سره، په موجوده سیاسي ادبیاتو کې د شهید محمد موسی شفیق حضور خورا کمرنگه دی. موږ باید په سیاسي او ملي کچه د شهید محمد موسی شفیق بند شوی مکتب بیا پرانیزو او دې حقیقت ته ورسیږو چې د افغان کشالې د ختمولو لپاره تر هر څه مخکې د نجات روحیې، د ملي گټو په تقدس باور او سیاسي تقوا ته ضرورت دی.

**لطف الله لطف**

کابل، افغانستان

# سریزه

د اسلامي تمدن تاریخ له پریمانه دینپوهانو، فقهاو او تکړه سیاستپوهانو ډک دی. د خلفاو راشدینو له دورې را وروسته د اسلامي خلافت په دوره کې ډیری داسې کسان تر سترگو کیږي، چې له دیني پوهې سربېره ښه سیاستپوهان او د خپلو ټولنو مشران هم تېر شوي دي. په اتلسمو او نولسمو پیړیو کې اروپايي زبرځواکونه وتوانېدل، چې په تدریجي توگه د اسلامي نړۍ ستره برخه خپله مستعمره کړي، چې له امله یې اداري او سیاسي سیستمونه په پراخه کچه بدل شول او دودیز اسلامي جوړښتونه یې پر لویدیز هغو واړول. دا چاره ددې لامل شوه، چې استعماراو لویدیز ضد غورځنگونه سر راپورته کړي.

ځینې کارپوهان باور لري، چې اسلامي نړۍ یوازې د لویدیځ کیدو پر مټ کولای شي پرمختگ وکړي، خو یو شمېر نور بیا وایي، چې په اسلام کې اصلاح او نوښت کولای شي اسلامي نړۍ د ویاړ او کامیابۍ لور ته روانه کړي .

د سید جمال الدین افغان او شاگرد یې محمد عبده په څېر مفکرینو باور درلود، چې عصریتوب د اسلامي نړۍ د ستونزو له منځه وړلو لپاره مهم دی، خو پر دې نظر هم وو، چې اسلام خپله داسې جوهر لري چې کولای شي اسلامي ټولنې عصري کړي . ددې اړتیا نشته، چې اسلامي نړۍ دې اروپايي ارزښتونه او سیستمونه را خپل کړي. په شلمه پیړۍ کې یو شمېر سیاسي غورځنگونو د یو اصل په توگه ټولنه او دولت د اسلامي قوانینو او بنسټ په مټ

د را منځته کولو چارې ته مخه کړه، چې دې کار اسلامي نړۍ د پرمختګ له مسیر څخه بل لور ته واړوله. نامتو پوهانو لکه حسن البنا، سید قطب او مولانا مودودي داسې نظریې را منځته کړې چې د الافغاني او عبدو له نظریو سره یې توپیر درلود. په اسلامي نړۍ کې د مستعمرو له را پنځولو سره سم سیکولر او لویدیز پلوه غورځنګونو هم سر را پورته کړ، چې له امله یې ډیری شمېر عالمان او پوهان له سیاسي ډګر وویستل شول.

د اسلامي هېوادونو د معاصر تاریخ په ترڅ کې افغانستان کې هم ورته بهیرونه رامنځته شول.

په عربي نړۍ کې د اسلامي غورځنګونو له څېړ، په ایران کې د خمیني له لورې د ولایت فقیه او په پاکستان کې د ضیاالحق د اسلامیزیشن له پروګرام دوه لسیزې وړاندې په افغانستان کې د فقیه سیاستوال او سیاستپوه د محمد موسی شفیق په بڼه ولیدل شوه (۱۹۷۸-۱۹۳۰) .

موسی شفیق یو پوخ فقیه و، خو ددې تر څنګ یې په خپل کاري ژوند کې له دیني او سیاسي پوهې څخه یو ډول ګټه پورته کوله.

# لومړی څپرکی
# تاریخي شالید

افغانستان د نولسمې پېړۍ له پیل سره سم د اروپایي زبرځواکونو له سیاست سره ښکېل شو. یو لور ته په هند کې د برتانوي امپراتورۍ ښکیلاګرې هیلو او بل لور ته د هند سمندر سړو اوبو ته نږدې شوروي حضور درلود.

افغانستان د دواړو زبرځواکونو (د څټک او سندان) تر منځ په سیاسي توګه ښکېل شوی و. له لویدیز لورې افغانستان د [1]فرانکو – فارس ائتلاف له ګواښ سره هم مخ و، خو دا ګواښ په واقعیت بدل نه شو. د امپریالیستي سوبې په موخه ستره لوبه په ټوله نولسمه پیړۍ کې روانه وه او افغانستان یې ډګر و. د بریتانیې استعماري هیلې د درې افغان ـ انګلیس جګړو د را منځته کېدو لامل شوې ـــ ۱۸۳۹ ـ ۴۲، ۱۸۷۸ ـ ۷۹ او د ۱۹۱۹ وروستۍ جګړه.

احمدشاه درانی په ۱۷۴۷ کې واک ته ورسېد، او د هغه له واکمنۍ راهیسې د ۱۹۷۸ کمونیستي کودتا پورې په افغانستان کې واک درانې قبیلې سره و. په ۱۸۳۵ کې واک د درانۍ قبیلې محمدزیانو ته ولیږدول شو، دا دوره د امیر دوست محمد خان څخه پیل شوې.

---

[1] فرانکو ـ فارس ایتلاف د ۱۸۰۷ ـ۱۸۰۹ پر مهال د برتانوي امپراتورۍ او شوروي په ضد د فرانسې د لمړی ناپیلیون او فتح علي شا له لورې جوړ شوی و، (ژباړن).

کله، چې اوسپنیز امیر عبدالرحمن خان د خپل سلطنت د پیاوړتیا په تکل کې شو، نو لومړی یې په سترو ولایتونو کې د والیانو په توګه د شهزاده ګانو د ګومارلو دود له منځه یوړ.

همداراز یې په شمال کې د ازبکانو، په مرکز کې د هزاره او په ختیځ کې د [1]کافرو د واک سیمه ییزې جزیرې له منځه یوړې. د امیر عبدالرحمن خان واکمني د مرکزي حکومتولی او د حکومت د بیروکراتیک کولو پیلامه وه. نوموړي افغانستان لپاره بهرنۍ تګلاره ترسیم کړه، د خپلې واکمنۍ پر مهال یې همدا ترسیم شوې تګلاره وپاله. پر دې سربېره، زوی یې امیر حبیب الله خان (۱۹۰۱ـ۱۹۱۹) او لمسي یې غازي امان الله خان (۱۹۱۹ـ ۱۹۲۹) د خپلو واکمنیو پر مهال همدې تګلارې ژمن پاتې شول.

غازي امان الله خان په افغان -انګلیس دریمه جګړه کې سوبه تر لاسه کړه او په پایله کې یې سترو اروپایي او اسیایي هېوادونو سره ډیپلوماتیکې اړیکې رامنځته کړې.

غازي امان الله خان داسې مهال واک تر لاسه کړ، چې په ترکیه کې کمال اتاترک او په ایران کې رضا شاه واکمن وو. غازي هم غوښتل، چې د دواړو په څېر اصلاحات رامنځته کړي او هیله یې درلوده، چې افغانستان د لویدیز پر بنه جوړ کړي. لومړی ځل و، چې د نوموړي په دوره کې ښځې اړ شوې چې مخونه لوڅ کړي.

د امیر حبیب الله خان په دوره کې د نجونو د تعلیم لپاره د لومړي ځل لپاره زمینه برابره شوه، خو د امان الله خان په دوره کې یې نور پرمختګ هم وکړ. د امان الله خان د اصلاحاتو لړۍ د نظامنامې په بڼه رابرسېره کېدله او د اصلاحاتو

---

[1] د نورستان او شاوخوا سیمو پخوانی نوم دی.

په اړه د نوموړي ټول فرمانونه د افغانستان په اساسي قانون کې ځای پر ځای شوي و، چې په ۱۹۲۴ کې د لویې جرګې له لورې ومنل شول.

غازي امان الله خان ډېر ژر په برتانوي هند کې د هندي فعالینو او مبارزینو تر منځ مشهور شو، او په سیمه کې د ازادۍ د تر لاسه کولو پر سمبول او الګو بدل شو.

خو، د امان الله خان د اصلاحاتو پروګرام مذهبي طبقې ته د زغم وړ نه و او له همدې امله ناخوښه و. دې وضعیت انګریزانو ته فرصت په لاس ورکړ، چې کور دننه د امان الله خان پر ضد مذهبي طبقه ولمسوي او د مخالفت څپه راپورته کړي.

د انګریزانو له لوري لمسول شوي مخالفت افغانستان کې د کورنۍ جګړې د پیل سبب شو، او امان الله خان د هېواد پرېښودلو ته اړ شو. حبیب الله خان کلکاني، چې پر بچه سقاو هم مشهور د ۱۹۲۹ ز په جنورۍ کې، واک تر لاسه کړ. بچه سقاو د ټیټې طبقې له یوې کورنۍ سره تړاو درلود. نوموړی تاجک توکمه و، او همدا حقیقت حاکمو پښتنو قبیلو ته د زغم وړ نه و، ځکه یې واکمنۍ هم زیات دوام و نه کړ. هماغه وخت په افغانستان کې کورنۍ جګړه ښه په شدت روانه وه، چې له امله یې هېواد او د افغانستان اداري ویجاړې شوې.

د نهو میاشتو کورنۍ جګړه او اړ دوړ هغه مهال پای ته ورسېد، چې د محمدزیو قبیلې نادر خان له فرانسې څخه د هند له لارې افغانستان ته راغی او د پښتنو قبیلو پر مټ یې بچه سقاو مات او د ۱۹۲۹ په اکتوبر کې یې کابل ونیو. نوموړی د یوې جرګې له لورې د اکتوبر پر پنځلسمه د پاچا په توګه اعلان شو.

نادرخان پوره هڅې وکړې، چې هېواد بیا منظم کړي او ښوونځي پرانیزي. د نوموړي په واکمنۍ کې په ۱۹۳۱ ز کې نوی اساسي قانون ولیکل شو، خو د

امان الله خان ملاتړو نوموړي ته د خاین په سترګه کتل او بالاخره په ۱۹۳۳ کې د امان الله د یو ملاتړي غلام نبي چرخي د یو (پالل) شوي هزاره توکمه زوی له لوري ترور شو.

د نادرشا له ترور وروسته د هغه ځوان زوی محمد ظاهر د ۱۹۳۳ د نومبر پر اتمه پاچا اعلان شو. ظاهر شا د ۱۹۱۴ د اکتوبر پر ۱۵ زیږیدلی او په کابل او فرانسه کې یې زده کړې کړې وې. نوموړي د المتوکل علی الله لقب خپل کړی و. د ظاهر شا د واکمنۍ په لومړیو کلونو کې د هغه ترونه په نا مستقیمه توګه د افغانستان واکمنان ګڼل کېدل. له ۱۹۲۹ـ۱۹۴۶ او ۱۹۴۶-۱۹۵۳ پر مهال لومړی محمد هاشم خان او بیا شامحمود خان غازي د صدارت پر څوکیو کار وکړ. د ظاهر شاه د تره زوی داود خان په ۱۹۵۳ کې د صدارت تر څوکۍ ورسېد او تر لسو کلونو یې پر همدې څوکۍ کار وکړ. ظاهر شاه، چې دا مهال د ځوانۍ له دورې وتلی و او تجربه یې تر لاسه کړې وه، په برخلیک ټاکونکو موضوعاتو کې خپل کمرنګه رول نه شو زغملی. پر دې سربېره، داسې حالات رامنځته شوي و، چې پرمختګونه او لاسته راوړنې له لومړي وزیر پورې تړل کېدل، خو د ناکامیو مسولیت ظاهر شاه ته منسوببېده.

د خپل موقف پیاوړي کولو او افغانستان لپاره د پلانونو د تطبیق په موخه ظاهر شاه داود خان استعفا ته اړ کړ. ظاهر شاه له دې وروسته د اساسي قانون له لارې پر لوړو حکومتي څوکیو د شاهي کورنیو د غړو ګومارل او واک محدود کړ.

د ۱۹٦۴ د اساسي قانون له مخې د شاهي کورنۍ غړیو نه شو کولای د لومړي وزیر، د پارلمان د غړي، قاضي القضات او د سترې محکمې د ریاست پر څوکیو کار وکړي. دې پېښو د افغانستان په معاصر تاریخ کې یوه نوې دوره رامنځته کړه، چې د اساسي قانون د دورې په نوم یادیږي. نوي اساسي قانون په

هېواد کې یو لړ انقلابي بدلونونو ته لار هواره کړه. د واک تر دې مهاله له ظاهر شا سره وه، خو پر دې سربېره یې په هېواد کې په بېسارې توګه د دیموکراتیک حکومت طرز ته اجازه ورکړه. د بیان ازادي، د ځمکوملکیت، لاریونونه، وړیا تعلیم تضمین شو. د رسنیو ازادي وستایل شوه او د سیاسي ګوندونو د جوړښت لپاره قانون په پلان کې ونیول شو.

په ۱۹۶۳ کې د داود خان له استعفا وروسته داکتر محمد یوسف له شاهي کورنۍ بهر لومړنی کس و، چې د صدارت څوکۍ ته ورسېد. د نوموړي لنډه کاري دوره د نوي اساسي قانون د رامنځته کولو، لاریونونو او سیاسي ناندرو شاهده وه. له حکومت سره د پارلمان د همکاریو کمښت د تګلارو تطبیق خورا ستونزمن کړی و. ۱۹۶۵ - ۱۹۷۲ تر منځ درې لومړي وزیران یو پر بل پسې وټاکل شول. محمد هاشم میوندوال ۱۹۶۵-۶۷، نور محمد اعتمادي ۱۹۶۷-۷۱ او داکتر عبدالظاهر ۱۹۷۱-۷۲. درې واړه لومړي وزیران د داکتر یوسف په څېر له ستونزو سره مخ وو.

د ۱۹۷۲ په اکتوبر کې محمد موسی شفیق د داکتر ظاهر پر ځای لومړی وزیر وټاکل شو. د [1]نوي اساسي قانون په لیکلو کې د شفیق رول او پاچا ته د حکومتي تګلارو په هلکه مشورې ورکول مهم کارونه وو. له دې امله، د لومړي وزیر په توګه د شفیق ټاکلو له ظاهر شاه سره مرسته وکړه، چې په راتلونکي کې د خپلو پلانونو او د اساسي قانون د موخو د تر لاسه کولو څرک وګوري.

په هېواد کې د ۱۹۷۲ وضعیت بیړنی انرژۍ او مشرتابه ته اړتیا درلوده. پر حکومت نیوکه نږدې یوه نړیواله مسله ګرځېدلې وه. په یو شمېر ولایتونو او ښاري سیمو کې د تعلیم یافته طبقې تر منځ پر حکومت د نیوکې دود په مخ په

[1] د نوي اساسي قانون په بنسټ لمړی وزیر د پاچا له لورې نومول کېد او د کار له پیل مخکې یې له پارلمان رایه اخېستله.

زیاتېدو و. ان حکومتي رسنیو هم د ناوړه خدماتو له کبله ، لوړو بیو ، د مخدره توکو د قاچاق د زیاتوالي، پر حکومتي چارو کې د اختلاس او په کابل کې د شتمنې طبقې د اخلاقي معیار د ټیټوالي په اړه د خلکو قهر او غوسه انځوروله.

د هېواد د ستونزو هوارولو لپاره یوې نوې تګلارې ته اړتیا لېدل کېده، داسې یو کس په کار و، چې د تیرو درې لومړي وزیرانو تر سیوري او اغېز لاندې نه وي او شاهي کورني ته نږدې وي.

د ظاهر شاه له انده، شفیق پر دې شرایطو پوره و. د موسی شفیق د حکومت پر وړاندې ستري ستونزې پرتې وې. فلج شوي اقتصادي نظام او بیروکراسی ته ساه او خلکو ته ډاډ ورکول، چې د ۱۹٦۴ اساسي قانون به د هېواد پرمختګ ته لار هواره کړي هغه ننګونې وې، چې شفیق ورسره مخ و. د نوموړي د صدارت په لومړیو اوه میاشتو کې کابینې فعاله رول ولوباوه، چې د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي او د هېواد د پرمختګ لپاره بدیلې لارې ولټوي. د شفیق د کابینې د یو کال فعالیت د تیرو پنځه لیبرال کابینو له کار څخه ډیر و.

د شفیق کار او پلانونه هغه مهال له خنډ سره مخ شو چې پخواني صدر اعظم داود خان په ۱۹۷۳ کې سپینه کودتا وکړه. داود د کینې اړخو او پوځ په مرسته واک ته ورسېد او د خپل تره زوی ظاهر شاه پاچایي یې ړنګه کړه او د افغانستان د جمهور رئیس په توګه یې د پنځو کلونو ۱۹۷۳-۱۹۷۸ لپاره واکمني پیل کړه.

د ۱۹۷۸ په اپریل کې د داود نظام د یوې کمونیستي کودتا په ترڅ کې ړنګ شو، داود د خپلې کورنۍ له یو شمېر غړو سره ووژل شو. یو کال وروسته د ۱۹۷۹ په دسمبر کې سرو پوځونو پر افغانستان یرغل وکړ.



## سیاسي سازمانونه

که څه هم د اساسي قانون د تدوین کمیټې د سیاسي ګوندونو د جوړښت لپاره یو جلا سند تیار کړی و، خو تر اوسه یې پارلمان ته نه و استولی.

ظاهر شاه غوښتل، چې په هېواد کې دیموکراسي په تدریجي بڼه رامنځته شي، خو تر دې دمه توانیدلی نه و، چې لومړی وزیر وهڅوي، چې پارلمان ته د سیاسي ګوندونو د جوړولو سند واستوي.

شفیق، ظاهر شاه ته وړاندیز کړی و، چې دا ستونزه په ضمیني بڼه هواره کړي. تر دې دمه سیاسي ګوندونو ته په رسمي توګه د فعالیت اجازه نه وه ورکړل شوې ، خو یو شمېر ګوندونو پټ فعالیت کاوه، چې مهم یې په لاندې ډول و:

## اسلامي ګوندونه

د اسلامي ګوندونو څپه تر ډېره بریده د افغانستان د عصریتوب پر ضد وه . د اسلامي ګوندونو فکري اډانه د مصر د اخوان المسلمین تر نفوذ لاندې وه او له همدې نهضت څخه په الهام اخېستلو رامنځته شوي و. د پنځوسمو کلونو په وروستیو کې داکتر غلام محمد نیازی، چې په الازهر کې یې زده کړې کړې وې، د ځوانو مسلمانانو د سازمان بنسټ کېښود. دې سازمان د مصر اخوان المسلمین او د پاکستان جماعت اسلامي سره نږدې اړیکې درلودې او مشرتابه یې د الازهر له فارغینو، لکه نیازي، برهان الدین رباني او سید موسی توانا څخه جوړ و. دوی ټولو د حسن البنا، سید قطب او مودودي نظریات څارل. په ۱۹۷۰ کې اسلامپاله ګوندونو د زده کونکو په ټاکنو کې اکثریت تر لاسه کړ، دې چارې مارکسیستي ډلې او ددوی ملاتړي حیران کړل. ددې سازمان له خېټې په ۱۹۷۱ کې د جمیعت اسلامي ګوند راووت، چې مشري یې برهان الدین رباني کوله. تر دې مهاله نیازي په سیاست کې له ښکاره ګډون څخه ډډه کوله، خو یو شمېر زده کونکو، چې ددوی په منځ کې حکمتیار هم و، د ښکاره فعالیت لپاره تبلیغ کاوه. د غازي مجاهدینو ډله، خدام القران او جمیعت علما محمدي د ځوانو اسلامي ډلو نورې ریښې وې چې هغه مهال یې سر راپورته کړی و.

## مارکسیستي گوندونه

د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د دیرشو کسانو له لورې په ۱۹۶۵ کې رامنځته شوه چې مشرې یې نور محمد ترکي او ببرک کارمل کوله. د ګوند د تاسیس راهیسې ددې ګوند د دوه مهمو څېرو تر منځ ستونزې موجودې وې. د خلک دیموکراتیک ګوند بالاخره د خلق او پرچم په نوم دوه ټوټې شو. د خلق مشري نور محمد ترکي کوله، چې په ډیری پلویان یې کلیوال کینې اړخه پښتانه او د وسلوال ځواک پښتانه غړي وو، د پرچم مشري د پارلمان د غړي ببرک کارمل پر غاړه وه، چې د ښار کینې اړخه او د پوهنتونونو زده کونکي یې د نفوذ حوزه ګڼل کیده. دواړه څانګې یوازې حکومت ته د ستونزو جوړولو پر مهال یا د اسلامي ګوندونو پر ضد د فعالیت پر مهال یو ځای کیدلې. د خلق او پرچم د شوروي اتحاد او د هند د کمونېست ګوند پر مرسته په ۱۹۷۷ کې ائتلاف وکړ.

د خلک دیموکراتیک ګوند بله ریښه په ۱۹۶۸ کې د ستم ملي په نوم د طاهر بدخشي له لورې رامنځته شوه. دا یوه مارکسیستي پښتون ضد ګوند و، چې د افغانستان د ناپښتنو لړه کیو لپاره یې د خپلواکۍ غوښتنه کوله. د همدې نظریې سره سم یوه بله ډله د شعله جاوید په نوم رامنځته شوې وه. ډیری چپي ګوندونو خپل ایدیالوژیکي او مالي ملاتړ له مسکو څخه تر لاسه کاوه، خو شعله جاوید بر عکس د چینایي مارکسیزم بنې ته ژمنتیا څرګندوله. ددې ګوند مهم غړي داکتر عبدالرحیم محمودي، داکتر عبدالهادي محمودي، پروفیسور اکرم یاري او محمد عثمان و.

## ملي گوندونه

د افغان ملت گوند په ۱۹٦۵ کې د غلام محمد فرهاد لخوا تاسیس شوی و. دې پښتون ملتپاله گوند د لوی افغانستان د بیا تر لاسه کولو داعیه پر مخ وړله، چې له مخې به یې د هغه مهال د سرحد او بلوچستان پښتون مېشته سیمې بیا افغانستان سره تړل کیږي. دوی پښتو او دري د هېواد د رسمي ژبو په توگه منلې وې، خو ټینگار یې کاوه، چې پښتو باید د هېواد رسمي ژبه وي. افغان ملت گوند د پارلماني دیموکراسۍ او په اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي مسلو کې د دولت په مقابل کې د هېواد د اتباعو د خوندیتوب داعیه هم پر مخ وړله.
د محمد هاشم میوندوال په مشرۍ جمعیت دیموکراتیک مترقي گوند په ۱۹٦۸ کې د اسلام، ملتپالنې، دیموکراسۍ او سوسیالیزم د اصولو سره سم د اقتصادي، ټولنیز، کلتوري او اخلاقي ریفورم لپاره یو پروگرام وړاندیز کړ.

## تعلیم

د شلمې پیړۍ په پیل کې په افغانستان کې د عصري تعلیم بنسټ کېښودل شو. په تعلیمي ساحه کې د اصلاحاتو راوستلو لومړۍ هڅه د امیر شیر علي خان ۱۸٦۳-۷۹ له لورې وشوه. د نوموړي په دوره کې د دیني زده کړو سربېره زده کونکو لپاره د پوځي او د عصري زده کړو ښوونځي، چې په خواړو او وړیا تعلیم سمبال و، پرانېستل شول. دا ډول خدمات یوازې د شاهي کورنۍ او حکومتي چارواکو کوچنیانو لپاره ځانگړي شوي وو. د ښوونځیو سیستم د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال نور هم پراخه شو، د دودیزو زده کړو

سیستم تر ډیره حاکم پاتې شو او تر ډیره د دیني ملایانو له لورې پر مخ وړل کېده. د تعلیم د سیستم عصري کول د غازي امان الله خان په دوره کې د حکومت مهمه اجنډا وه. د ۱۹۲۰ لسیزې پر مهال د هېواد په مهمو ښارونو او ولسوالیو کې لومړني ښوونځي رامنځته شول. په ۱۹۲۲ کې د فرانسوي ژبې امانیه عالي لېسه تاسیس شوه، ددې لیسې نوم وروسته استقلال شو، چې فرانسوي نصاب په کې د فرانسوي ښوونکو له لورې تدریس کېده. اماني لیسه، چې وروسته یې نوم نجات شو، په ۱۹۲۳ کې تاسیس شوه او د جرمني ښوونکو له لورې پر مخ وړل کېده. په ۱۹۲۷ کې غازي لیسه جوړه شوه. پردې سربېره، یو شمېر نور مسلکي ښوونځي هم جوړ شول، چې موخه یې د محاسبینو او مدیرانو روزل وو. د ظاهر شا د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې د تعلیم سکتور نور هم پراخه شو.

د کابل پوهنتون په رسمي توګه په ۱۹۴۷ کې تاسیس شو. د پنځوسمو کلونو پر مهال د کابل پوهنتون د طب، حقوقو، سیاسي او ساینسي علومو، دیني زده کړو، زراعت او اقتصاد فاکولتې درلودې. په شپېتمه لسیزه کې د کورني اقتصاد، ښوونې، انجینرۍ او فارمسي فاکولتې هم په کابل کې پوهنتون کې فعاله شوې. د پوهنتون ځینې پوهنځي د یو شمېر جرمني، فرانسوي او امریکایي پوهنتونونو سره وصل شوي وو. د دیني زده کړو فاکولتې په قاهره کې د مصر الازهر پوهنتون سره نږدې اړیکې درلودې، شوروي اتحاد کابل پولیتخنیک انستیتیوت په ۱۹۶۷ کې تاسیس کړ. په جلال اباد کې د ننګرهار پوهنتون په ۱۹۶۳ کې جوړ شو. په ۱۹۷۰ کې، له زابل پرته د افغانستان په ټولو ولایتونو کې منځني ښوونځي جوړ شوي وو، او مسلکي ښوونځي د هېواد په سترو ښارونو کې رامنځته شوي وو. په ۱۹۵۰ کې حکومت ٪۴۰ بودیجه تعلیم لپاره ځانګړې کړې وه.

غازي امان الله خان په ۱۹۲۱ ز د ښځو د تعلیم لپاره ځانګړې پاملرنه وکړه

افغان نجونو ته زده کړې د افغان ښځینه او یو شمېر بهرنیو ښځینه ښوونکو له لورې پیل شوې. پر دې سربېره، ښځو ته د پخلي، خیاطی، ماشوم روزنې او د نړۍ د مشهورو ښځو د ژوندلیک لوستلو په برخه کې هم مرستې کیدې. د نجونو او هلکانو ګډ ښوونیز ټولګي د لومړي ځل لپاره په ۱۹۲۸ کې په استقلال لیسه کې د لومړي او دویم ټولګیو په کچه تجربه شول.

یو شمېر نجونې هم د زده کړو په موخه ترکیې ته واستول شوې. له واکه د امان الله خان له لرې کیدو سره سم د نجونو ښوونځي بند شول، خو په ۱۹۳۹ کې بیا پیل شوې. د ښځو لپاره یو انستیتیوت د ظاهر شاه د مېرمن ملکه حمیرا له لورې پرانېستل شو، چې په کورني اقتصاد او د لاسي صنایعو په برخه کې یې ښځې روزلې. د ښځو لپاره د ښوونې او روزنې فاکولته هم رامنځته شوه، او په دې توګه د کابل پوهنتون د شپیتمو کلونو پر مهال له ګډ تعلیمي کلتور څخه برخمن شو.

## اقتصاد

د نورو وروسته پاتې اقتصادونو په څېر د افغانستان اقتصاد هم پر کرنه ولاړ و. د شوروي له یرغل وړاندې د افغانستان نوي سلنه وګړو پر کرنه او د حیواناتو پر روزلو بوخت و.

د هېواد صادراتي توکي یوازې تر وچې میوې او قالینو پورې محدود و. د افغانستان طبیعي ګاز هغه مهال د شوروي له لورې د خپل پور په بدل کې د بازار له بیې په ټیټه بیه پیرل کېده.

د اقتصاد د صنعتي کولو لپاره ډیرې محدودې هڅې شوې وې. له دې امله، تر ۱۹۷۰ پورې د هېواد اقتصاد پر کرنیزو صاداراتي توکو او بهرنیو مرستو ولاړ و. که څه هم افغانستان هغه مهال د بدایه صنعتي هېوادونو له پامه غورځېدلی و، خو تر ۱۹۷۰ پورې افغانستان هر کال ۱.۲ میلیارد ډالر مرسته تر لاسه کوله، چې ستره برخه ٪۵۰ د شوروي اتحاد مرستو جوړوله . د حکومت ډیر هڅې وکړې متحده ایالات وهڅوي، چې له پرمختیایي پروژو سره خپله مالي مرسته زیاته کړي، خو نتیجه یې ورنه کړه. لومړي وزیر شامحمود غازي نوره هڅه هم وکړه، چې د افغانستان په پرمختیایي پروژو کې د متحده ایالاتو لېوالتیا را جذب کړي، خو هغه هم بریالی نه شو. داود خان هم له امریکا وغوښتل، چې له افغانستان سره د پاموړ اقتصادي مرسته وکړي، خوغوښتنه یې رد شوه. د امریکا د منفي ځواب په غبرګون کې داود خان د مرستې تر لاسه کولو لپاره شوروي ته مخه کړه، چې په پایله کې یې افغان اقتصاد پر شمالي ګاونډي متکي شو.

## بهرنۍ اړیکې او ګاونډیان

له ګاونډیانو سره د افغانستان اړیکې له ډېرو لوړو ژورو ډکې دي. د نورو معاصرو دولتونو په څېر افغانستان هم د خپلو پولو په سر له ګاونډیانوسره ستونزې لرې. د بیلګې په توګه له ایران سره د هلمند د اوبو د ویش پر سر افغان -ایران اړیکې کړکیچنې دي .

د اوبو د ویش پر سر کړکېچ هغه مهال راپورته شو، چې د نولسمې پیړۍ په پیل کې د سیمې یو خان د فارس پاچا ته د وفادارۍ سوګند وکړ. له دې امله ایران په هغه ځمکه دعوه وکړه، چې د هلمند سیند اوبه ور بهېدلې او غوښتل یې

چې د افغان اړخ بزګر باید د سیند اوبه بل لوري ته سمې نه کړي. د اوبو د ویش په اړه د جوړجاړي ډیرې هڅې وشوې، خو بریالۍ نه شوې. په پایله کې د دواړه هېوادونو تر منځ کلتوري، سیاسي او سوداګریزې اړیکې تر ټولو ټیټې کچې ته ورسېدې.

د پښتونستان مسله د ختیځ پاکستان د سرحد ایالت په سر د افغانستان او پاکستان تر منځ اوږده کشاله وه. دا جغرافیوي کړکېچ افغانستان ته له برتانوي استعمار څخه په میراث پاتې دی.

انګریز په هند کې د خپل حضور پر مهال د پښتنو او بلوچو ځینې سیمې د ډیورنډ کرښې پر مټ له برتانوي هند سره وتړلې.



په ۱۹۴۷ کې د پاکستان له زیږیدو سره سم پښتنو ته حق ورکړل شو، چې له هند یا پاکستان سره یو ځای شي. د ازادۍ یا له افغانستان سره د یو ځای کېدو انتخاب له پښتنو اخستل شوې و.

د پښتونستان مسلې په تاریخي توګه د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې اغېزمنې کړي. د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې هغه مهال نورې هم کړکېچنې شوې، چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په سیمه کې یو شمېر هېوادونه په

بغداد تړون کې سره را غونډ شول. د سړې جګړې دې تګلارې پاکستان، ایران، عراق او ترکیه د شوروي د پراختیا غوښتنې پر ضد په دفاعي ائتلاف کې یو بل ته نږدې کړل. دا چاره ددې لامل شوه، چې ډیورنډ لاین د لویدیځ ائتلاف له لورې په رسمیت وپیژندل شي.

پاکستان چې دا مهال د لویدیځ ائتلاف غړی و، د افغانستان اړیکې ورسره نورې هم کړکیچنې شوې.

افغان - شوروي اړیکې هم خپلې لوړې ژورې لري. د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال تزاري روسیې د افغانستان په شمال ختیځه پوله د پنجدې سیمه له روسیې سره ونښلوله.



غازي امان الله په ۱۹۱۹ ز کې لومړی له شوروي سره رسمي ډیپلوماتیکې اړیکې پیل کړې، دواړو هېوادونو په ۱۹۲۱ کې یو تړون لاسلیک کړ، چې له

مخې يې دواړه دولتونه نه شي کولای له داسې هېواد سره پوځي يا سياسي تړون لاسليک کړي، چې د يو اړخ پر زيان وي.

نادر شاه د امان الله خان تړون په ۱۹۲۹ کې شوروي سره بيا له سره لاسليک کړ، په راتلونکو درې لسيزو کې ياد تړون څو ځلې تازه شو. د لويديزله لورې بغداد تړون کې افغانستان له پامه غورځول ددې لامل شول، چې افغانستان تر ډېره پر شوروي اتحاد ډډه ولګوي.

د شوروي پراخه مرستې او په افغانستان کې د نفوذ پراخولو پريمانه هڅو چين اړ کړ، چې په افغانستان کې فعال شي. چين په ۱۹٦۰ کې له افغانستان سره مالي مرستې زياتې کړې، او په ۱۹۷۰ کې څلورم ستر هېواد و، چې له افغانستان سره يې مالي مرستې کړې وې.

# دویم څپرکی

## د بدلون کلونه، له هډې تر نیویارکه

محمد موسی شفیق د مې میاشتې په ۲٦ مه په کابل کې زیږیدلی دی. مور یې دري ژبې او پلار یې پښتون و. کورنی یې د دیني زده کړو او تدریس اوږده مخینه درلوده. د شفیق پلار مولانا محمد ابراهیم کاموي ستر فقیه و. کاموي دیني زده کړې په دودیزه بڼه لومړی په کور او بیا په نجم المدارس کې تر سره کړې وې.

نجم المدارس هغه مهال په ننګرهار کې نوموتې دیني مدرسه وه. د هډې مدرسه د دیني زده کړو مهم مرکز و، چې بنسټ یې د سوات اخندزاده مولانا نجم الدین ایښی و. د هډې مدرسې د زده کړو سیستم د مصر د مدرسو په څېر نه، بلکې په هند کې د دیوبند مدرسو په څېر و.

نجم المدارس همداراز د برتانیې ضد فعالیتونو له کبله هم مشهوره وه. زده کونکي او ښوونکي یې پر دیني او ملي روحیه سمبال وو. دا مدرسه د صوفي طبقې له قادریه ریښې سره هم نږدې وه.

مولانا محمد ابراهیم کاموي د خپلو ښوونکو په څېر په ۱۹۰۸کې د انګلیس پر ضد پاڅون کې فعاله ونډه درلوده، او په ۱۹۱۵ کې یې د بهرني تاړاک پر ضد جهاد کې ګډون کړی و. د فقیه په توګه نوموړي د غازي امان الله له لورې د نوي اساسي قانون په تدوین او ترتیب کې هم رول درلود، خو وروسته یې د همدې

اساسي قانون د تطبيق پر بنه نېوکو ته مخه کړه. له همدې کبله غازي امان الله له نوموړي وغوښتل، چې د ديني عالمانو يو پلاوی د اساسي قانون د بيا کتنې لپاره وگوماري. مولانا ابراهيم کاموي پر خپلو هڅو اماني فرمان رامنځته کړ.

کوچني شفيق خپلې زده کړې په کور کې پيل کړې وې. پلار يې خپل زوی ته د لوړو زده کړو لپاره د مهم او نوموتي بنسټ په لټه کې و.

شفيق په خپله ليکي : زما په روزنه کې تر ټولو مهم اغېز د پلار و. د هغه مثبتو نظريو پر ما خورا ژور اغېز کړی و، او ځينې وخت به يې خپل نظريات پر ما تحميلول. د هغه يو شمېر نظريات هغه مهال گټور برېښېدل، خو وروسته يې منفي رنگ خپل کړ[1]. د شفيق مور او خور هم په هغه وخت کې تعليم کړی و، چې د افغانستان کليوالو سيمو کې خلکو د ښځو تعليم ته جدي پاملرنه نه کوله.

شفيق په خپل کور کې قران کريم زده کړ او وروسته يې د خپلو مورنی ژبو دري او پښتو په اړه ابتدايي پوهه هم تر لاسه کړې وه. شفيق د نورو ديني زده کړو لپاره نجم المدارس ته لاړ.

په همدې مدرسه کې شفيق د اسلامي فقهې اساسي پوهه تر لاسه کړه. نوموړی په دې مدرسه کې ډېر پاتې نه شو، ځکه د شفيق پوهې او زيرکتيا او په کور کې تر لاسه شوې روزنې ورسره مرسته وکړه، چې خپلې ديني زده کړې په لنډ وخت کې بشپړې کړي.

شفيق د نورو لوړو زده کړو لپاره د کابل شرعي دار العلوم ته لاړ. دې مدرسې هم د کلاسيک تدريس له دوده گټه پورته کوله او ډيری ښوونکي يې محلي علماء وو. وروسته بيا دې دارالعلوم ته مصري ښوونکي راورسيدل،، چې د تدريس ميتود يې له الازهر پوهنتون سره سم عيار کړل.

[1] شفيق ملگري او د ملي اسلامي محاذ مشر او عبدالستار سيرت سره د مرکې جريان.

په دار العلوم کې شفیق د مولانا غلام نبي کاموي له نفوذه اغېزمن شوی و. شفیق له همدې مدرسې فارغ شو او د شاهي دار الانشاء د تحریراتو په برخه کې پر دنده وگومارل شو.

مولانا ابراهیم کاموي غوښتل، چې زوی یې د تعلیم په برخه کې نور پرمختگ وکړي، نو ځکه یې له لومړي وزیر شامحمود غازي وغوښتل، چې شفیق ته په الازهر کې د نورو زده کړو زمینه برابره کړي. الازهر هغه مهال د دیني زده کړو په ډگر کې د نړۍ په کچه لرغونی او نامتو پوهنتون و او هر زده کونکي غوښتل چې زده کړې په کې وکړي.

د شفیق د دیني زده کړو پوخ بنسټ له نوموړي سره مرسته وکړه، چې په مصر کې د نورو لوړو زده کړو په موخه تحصیلي بورس تر لاسه کړي. د نوموړي یو خوب په رښتیا بدل شو، او په ۱۹۵۳ کې مصر ته ولاړ. شفیق هلته دافغان سفیر او پیاوړي سیاستوال عبدالهادي داوي له ملاتړ او مرستې برخمن شو. شفیق وایي: ما په مصر کې د ښاغلي داوي له پوهې ډېره گټه پورته کړه. په افغان سفارت کې د داوي ځایناستی علامه صلاح الدین سلجوقي د هغه مهال مفکر او فیلسوف او د عربي او دري ژبې تکړه شاعر هم و. نوموړي هم د شفیق له تعلیم او زده کړې سره لېوالتیا څرگنده کړه. سلجوقي د شفیق په کرکټر کې د زده کړې لپاره ژوره تنده لیدلې وه او د نوموړي له علمي سویې او اخلاقو خورا اغېزمن شوی و.

په دیني زده کړو کې د شفیق بنسټ پوخ و، نوموړی دشرعیاتو پوهنځي له ازموینې بریالی راووت، خپلې زده کړې یې په اسانۍ بشپړې کړې. له دې وروسته شفیق د قانون په برخه کې د ماسترۍ دوه کلنې زده کړې پیل کړې چې په ۱۹۵۵ کې یې بشپړې شوې دي . په همدې ورځو کې په الازهر کې نامتو علماء، لکه شیخ محمود شلتوت، چې وروسته د الازهر پوهنتون شیخ شو او

شیخ محمود الباهي د پوهنتون راتلونکی مرستیال او د اوقافو وزیر شتون درلود.
شفیق د همدې کسانو له ژورې پوهې څخه ستره گټه پورته کړه.

شفیق په مصر کې ځان یوازې تر خپلو زده کړو محدود نه کړ. نوموړي په نورو فعالیتونو کې هم پراخه ونډه اخېسته. د پیاوړي او جذابه شخصیت په لرلو سره نوموړي د افغان محصلینو سربېره په الازهر کې د نورو محصلینو باور هم تر لاسه کړ. شفیق په ټولنیزو محفلونو کې د بهرنیو زده کونکو استازیتوب کاوه او د شام نسیم په پسرلنۍ مېله کې د محصلینو په استازیتوب د مصر د ولسمشر جنرال نجیب په شتون کې خبرې وکړې[1].

شفیق داسې مهال په مصر کې پر درس بوخت و، چې مصر له سترو بدلونونو سره مخ و. مصر تازه د پوځي جنرالانو لاس ته پریوتی و. پاچا فاروق له واکه گوښه شوی و او جمهوریت اعلان شوی و.

ټول سیاسي گوندونه د واک تر لاسه کولو لپاره پر سیالیو او کشمکش بوخت وو.

اخوان المسلمین هغه مهال د خلکو له پراخه ملاتړ برخمن گوند و، او هیله یې درلوده، چې په نوي حکومت کې به د واک ستره برخه تر لاسه کړي. خو د کودتا او د ولسمشر جمال عبدالناصر پر ترور تورن شول.

د اخوان المسلمین د مشرتابه یو شمېر غړي ونیول شول او څلور تنه یې د محکمې له لورې اعدام شول. له دې وروسته په مصر کې د اخوان المسلمین پر فعالیتونو بندیز ولگېد، چې په نتیجه کې یې پټ فعالیت ته مخه کړه. موږ داسې شواهد نه لرو، چې له اخوان المسلمین سره د شفیق تړاو ثابت کړي، خو دا

---

[1] په قاهره کې د شفیق همصنفي غلام صفدر پنجشیري سره د مرکې برخه.

ستونزمنه ده، چې باور وکړو، چې شفیق دې ددوی له نفوذه لرې پاتې شوې وي.

که څه هم افغانستان ته له راستنېدو وروسته شفیق له هغو اسلامي گوندونو سره یو ځای نه شو، چې د نورو افغان ازهریانو له لورې رامنځته شوي وو، خو د خپل سیاسي ماموریت په وروستیو کې نوموړي په افغانستان کې سیاسي، ټولنیزو اصلاحاتو ته مخه کړه، چې په دې برخه کې د مخالفینو د تعبیر له مخې نوموړی د اخوان له فکره اغېزمن شوی و.

شفیق د الازهر د بورسونو په ازموینه کې گډون وکړ او کولمبیا پوهنتون ته د قانون په برخه کې د لوړو زده کړو لپاره انتخاب شو. د بورس له گټلو وروسته نوموړي د سلجوقي په مرسته د خپلو زده کړو پر مخ وړلو لپاره د انگلیسي ژبې زده کړې ته مخه کړه.

د شفیق د ژوند نوی فصل په نیویارک کې پرانېستل شو. که څه هم مصر د شفیق له پخواني چاپیریال (کابل او هډې) نه توپیر درلود، خو اسلامي دود او د کلتور ورته والي په کې شفیق له ستونزو سره مخ نه کړ. له بل لورې نیویارک او امریکا شفیق لپاره په بشپړه توگه نوی چاپیریال و. شفیق د دیني زده کړو عالم او فقیه و، د لویدیز کلتور سره مخامخېدل یې یو په زړه پورې کیفیت و. د امریکا اقتصادي او تکنالوژیکي پرمختگ شفیق حیران کړی و، او د لومړي ځل لپاره نوموړي د اسلامي هېوادونو وروسته والی په بشپړه توگه حس کړ. پخوانی روزنې او په دیني زده کړو کې ژورې پوهې شفیق دې پایلې ته ورسوه، چې د موډرنیزم او اسلام تر منځ هېڅ ټکر او ستونزه نشته. سره له دې چې اسلام په زده کړه، تحقیق او اختراع ټینگار کوي، خو شفیق حیران و چې ولې اسلامي نړۍ وروسته پاتې ده. امریکا ته سفر د شفیق په ژوند کې د اوښتون یوه مهمه نقطه وه. همدې علمي سفر له سیاست سره د شفیق لېوالتیا زیاته کړه. په افغانستان او

مصر کې شفیق د دیني زده کړو له سترو پوهانو څخه زده کړه کوله. نوموړی په مصرکې د اخوان المسلمین لخوا له سیاسي شوي اسلام سره بلدشو.

امریکا ته د خپل دریم علمي سفر پر مهال شفیق خپل هدف ته نږدې شو. هغه ځان ددې جوګه ګڼلی و، چې له دې وروسته باید دیني زده کړې له سیاست سره غاړه غړې شي.

هغه مهال په اسلامي چوکاټ کې عصریتوب او پرمختګ د شفیق هیله وه. نوموړي خپله بڼه او صورت کې یو لړ سمبولیکي بدلون رامنځته کړ. لومړی یې خپله ازهري ږیره وخریله.[1] شفیق لیکي، چې په امریکا کې زه د لویدیز په دود له ژوند او نظریاتو سره بلد شوم او بالاخره د لویدیز شپو ورځو زه اغیزمن کړم او د ژوند په اړه یې د یو شمېر پیاوړیو نظریو سره بلد کړم. زه یې د ژوند لار ګڼم او زما ډیری ملګري ښایي له دې نظریاتو سره موافق نه وي. داکتر صمد حامد وایي: یو کس دا انګیرلی شي چې شفیق د ظاهري بڼې له مخې، دویښتو او جامو بڼه بدله شوې وه ، خو اسلامي عقیده د شفیق د سیاسي ایډیالوژۍ بنسټ و، د هغه کلک باور دا و چې د اسلام په رڼا کې دراتلونکي لپاره ته لار ویستل شوني دي.

شفیق د نړیوال قانون په برخه کې په کولمبیا پوهنتون کې د ماسترۍ زده کړې په اتلس میاشتو کې بشپړې کړې. نوموړي په امریکا کې له خپلو ښوونکو سره ژورې اړیکې وغځولې چې د ژوند تر وروستیو یې ورسره وپاللې. له دې ډلې څخه یو کس قاضي القضات او په کولمبیا پوهنتون کې د قانون پروفیسور او د امریکا د سترې محکمې قاضي ویلیم ډګلس و.

---

[1] د شفیق ملګري او د (۱۹۷۱-۷۲) پر مهال د افغانستان لمړي وزیر سره د مرکې برخه.

داود په ۱۹۷۳ کې شفیق زنداني کړ. د نوموړي يو ښوونکي په همغو ورځو کې د شپې په يو محفل کې د افغانستان له سفير سره ليدلي و، او ورته يې ويلي و: داود زما زوی زنداني کړی او دا کار ستاسې د هېواد په زيان دی.

شفيق د خپل سند په تر لاسه کولو امريکا کې خپل تعليمي سفر پای ته ورساوه او د خپلو زده کړو او نويو نظرياتو د تطبيق په موخه د هېواد پر لور وخوځېد.

## دریم څپرکی
## له مدرسې تر صدارته

شفیق افغانستان ته د تکړه قانونپوه په بڼه راستون شو. نوموړی یو له هغو بېساري کسانو و، چې د اسلام او نړیوال قانون په برخه کې یې روزنه تر لاسه کړې وه.

شفیق په ۱۹۵۷ کې په کابل کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې داستاد په توګه دنده پیل کړه. شاګردان یې شفیق د بریالي استاد په توګه یادوي. هغه نه یوازې پر دې پوهېده، چې څرنګه خپلو زده کونکو ته خپله پوهه ولیږدوي، بلکې هغه یې کوله، چې له شاګردانو سره شخصي اړیکې جوړې کړي. د شفیق په اړه د هغه یو شاګرد ننګیالی طرزي[1] وایي: هغه به د استادی له قالبه راووت او خپلو زده کونکو ته به یې د اهمیت احساس ورکاوه. شفیق به تل د اړتیا او ستونزو پر وخت خپلو شاګردانو لپاره حاضر و. زه، شفیق نه یوازې د استاد، بلکې د داسې یو ملګري په توګه یادوم ،چې تل مې پرې باور کاوه.

شفیق د پوهنتون له نورو پروفیسورانو سره ستر توپیر درلود. نوموړي به خپل شاګردان هڅول، چې د خپل هېواد له راتلونکي سره لېوالتیا پیدا کړي،

---

[1] داکتر طرزي په کابل پوهنتون کې د شفیق زده کونکی و، او په بهرنیو چارو وزارت کې یې د هغه تر لاس لاندې کار کړی و. نوموړی په ملګرو ملتونو کې د اسلامي همکاریو سازمان د سفیر په توګه هم دنده تر سره کړې.

خپلو شاگردانو ته به یې پر ځان د باور او مسولیت احساس ورکاوه. محمد قاسم هاشمزی، چې وروسته په عدلیې وزارت کې د شفیق سکرتر شو، په کابل پوهنتون کې د نوموړي د استادۍ په اړه داسې وایي: شفیق به تل د متوازن او معتدل دریځ له ادرسه لېکچر ورکاوه. بحث، موازي مفکورې او بدیل مېتودونه د شفیق د لېکچر خاصې ځانګړتیاوې وې.

شفیق خپل فعالیتونه تر تدریس محدود نه کړل. هغه به ورځپانو او مجلو ته لیکنې کولې. اکثره لیکنې به یې د ادب له منګي خړوبولې. افغانستان ته له راتګ سره سم هغه خپلې هیلې او نظریې د شعر او مقالو پر بڼه مختلفو چاپي رسنیو ته استولې.

د هغه د شعر لومړۍ ټولګه په ۱۹۵۹ کې د پیغام په نوم ولیکله. د شفیق لیکنې په مختلفو موضوعاتو راڅرخېدې. هغه به د ټولنیزو موضوعاتو په اړه مقالې لیکلې، له دې کاره یې موخه د عامو وګړو راویښول او د خپل هېواد وروسته والي ته متوجه کول و. شفیق باور درلود چې هېواد یې له وروسته والي رنځیږي. هغه په خپلو شعرونو کې ځوانان هڅول چې مسولیت په خپلو اوږو واخلي او په ټولنه کې فعال رول ولوبوي. هغه تل هڅه کوله چې د ځوانانو مغز له هیلو ډک کړي. په عمومي توګه، شفیق په خپلو شعرونو کې د هېواد او اسلامي نړۍ په اړه خپلې اندیښنې څرګندې کړي دي. هغه تل په هڅه کې و چې د موجود سیستم د ښه والي لپاره حللارې پیدا کړي.

پردې سربېره، هغه د الفلاح په نوم یوه مجله پیل کړه. ټولنیزې ،اسلامي او د فقهې اړوند موضوعاتو ددې مجلې منځپانګه جوړوله . د الفلاح مجلې پر مټ شفیق هڅه کوله په قانوني سیستم کې راتلونکو اصلاحاتو ته د خلکو ذهنونه چمتو کړي. د اصلاحاتو پروسه د شفیق له نظره زر پیلیدونکې وه.

په شپیتمو کلونو کې شفیق له داکتر صمد حامد سره په ګډه حقوقي شرکت جوړ کړ[1]. دا په افغانستان کې لومړی شرکت و. له دې وړاندې به خلکو خپلې قضیې محلي قاضیانو او ملایانو ته وړلې.

په عدلیې وزارت کې د کار پر مهال ۱۹۶۳-۶۶ کې د شفیق رښتینې وړتیا خلکو ته مالومه شوه. د تېز ذهن او ژورې پوهې له کبله شفیق د خلکو په منځ د افغانستان د نامتو فقیه په نوم یاد شو.

نوموړی په عدلیې وزارت کې د خپلو خدماتو له کبله د توجه مرکز او د پاچا ظاهر شاه له لورې وستایل شو. په عدلیې وزارت کې د شفیق مهم کار دا و چې قانوني کودونه یې جوړ کړل. دا د قانوني چارو په ساحه کې خورا اړین کار و، خو زړورتیا او پر ځان باور یې غوښت.

دا کار یوازې هغه چا کولای شو، چې پوهه او صلاحیت یې د پخوانیو دودیزو فقهاء له لورې منل شوې وي.

اسلامي قانون په خپل ذات کې ډینامیک طبیعت لري او د وخت په تیریدو سره پراخیږي. خو، په افغانستان کې د اسلامي فقهې قانون د پراخېدو مسله د تنګ نظرو او متکورو دیني عالمانو له لورې جامده پاتې شوې وه . دا بحران په نولسمه او شلمه پیړیو کې اوج ته رسېدلی و. د اسلامي فقهې پر وړاندې پراته خنډونه په افغانستان کې هم بالاخره د خلکو توجه را جذب کړه، افغان واکمنانو په قانوني سیستم کې د اصلاحاتو راوستلو هڅه وکړه، خو بریالي نه شول. په دې برخه کې بریا یوازې د مذهبي طبقې رښتیني هوډ پورې اړه درلوده. شفیق لومړنی فقیه و، چې دداسې حساسې مسلې د هوارولو جرات یې وکړ.

[1] د سید ابراهیم علم شاهي له لورې یو بل شخصي حقوقي شرکت هم په کابل کې پرانېستل شوی و، مګر د کار ساحه یې یوازې تر شرعي موضوعاتو محدوه وه، (داکتر حامد سره د مرکې برخه).

شفیق په عدلیې وزارت کې د قانون د تدوین د څانګې مشر وټاکل شوی و، هغه د عدلیې وزیر سید شمس الدین مجروح هڅولی و، چې له مصر نه یو قانونپوه راوغواړي چې د قانون په تدوین کې ورسره مرسته وکړي. د شفیق دا غوښتنه ومنل شوه او په عدلیې وزارت کې د معینت چارې ور وسپارل شوې او د جزا او مدني قوانینو د کوډ د تدوین چارې یې پیل کړې. په ورته وخت کې پاچا ظاهر شاه هیله درلوده، چې نوی اساسي قانون ولیکي، خونه یې غوښتل چې دا کار دې داود خان وکړي. دې کار لپاره یې د تدوین یو کمیسون وټاکه، شفیق یې ددې کمیسون غړی او سکرتر کړ.

داکتر صمد حامد هم ددې کمیسون غړی و، خپل یادښت داسې کاږي: موږ یو ځل بیا د نوي اساسي قانون د تدوین په برخه کې سره کاري ملګري شو. هغه دوره زما د ژوند مهمې شیبې وې. شفیق په هېواد کې د داسې اساسي قانون د تطبیق هوس درلود چې په ملي ګټو او اسلامي اصولو له مصلحت پرته د هېواد د پرمختګ لار روښانه کړي. هغه زیاتوي، د لومړي ځل لپاره د قوانیونو د بحث په اړانه کې د اسلام یو مخ خلکو ته روښانه کړل شو. دې ګام ستر جرات، کلکې عقیدې او تر هر څه زیات پر ځان باور ته اړتیا درلوده. دا مهمه ده ووایم چې پر دې پروسه ډیرې نیوکې مذهبي نه، بلکې سیاسي انګیزې درلودې.

شفیق وتوانېده په نوي اساسي قانون کې داسې ماده زیاته کړي، چې د قوانینو کوډبندۍ ته یې لار هواروله. د ۱۹٦۴ اساسي قانون ۱۰۲ مه ماده داسې وايي: محکمې باید دوی پورې د مربوطو قضیو اړوند د اساسي قانون او د دولت د نورو نافذه قوانینو مادې تطبیق کړي. محکمې باید د حنفي فقهې او ددې قانون په محدوده کې د قضیو په اړه داسې پریکړې وکړي چې د قاضیانو په نظر غوره انصاف تضمینولی شي. قاسم هاشمزی کاږي: د اساسي قانون دې مادې کوډبندۍ ته لار هواره کړه او دا هغه څه و چې شفیق غوښتل او تولنې

ورته اړتیا درلوده. د قوانینو د ډلبندۍ پروسه شفیق د نوي اساسي قانون له تدوین مخکې پیل کړې وه. د جرمي قضیو کوډ، د محکمو د صلاحیتونو قانون، د ټولټاکنو قانون او یو شمېر نور قوانین د شفیق په دفتر کې تیار شول او د وزیرانو شورا ته واستول شول. شفیق د کابینې وزیرانو ته د قوانینو په اړه ټول اړوند وضاحت ورکړ. نوموړی په لویه جرگه کې د تدوین د کمیټې د استازیتوب لپاره هم ټاکل شوی و ځکه دولت غوښتل چې د اساسي قانون په اړه د لویې جرگې مثبت نظر تر لاسه کړي. دې پرمختگونو د حکومت د مقننه او اجرایوي اړخونو نه د ازادې قضایه قوې تاسیس ته لار پرانېسته. کله چې شفیق په وزارت عدلیه کې خپله کاري دوره پای ته رسوله، نو له مدني او جزایي کوډونو پرته نور ټول قوانین تصویب او د تطبیق وړ گرځېدلي وو. د عدلیې نوي وزیر عبدالحکیم طبیبي سره د اختلاف له امله شفیق په عدلیې وزارت کې دنده پرېښوده [1].

له ۱۹۶۶ څخه تر ۱۹۶۸ پورې شفیق په بهرنیو چارو وزارت کې د سلاکار په توگه دنده تر سره کړه. که څه هم د نوموړي ددې دندې په اړه مالومات ډېر کم دي، خو د شفیق د راتلونکې کاري دورې له پرمختگونو داسې اقتباس کېږي، چې ظاهرشاه نوموړی دې وزارت ته راوستی و، چې د بهرنیو چارو وزارت مشرتابه ته یې وروزي. د حیرانتیا خبره خو دا وه، چې داکتر طبیبي مسلکي دیپلومات و خو ظاهر شاه عدلیې وزارت ته انتقال کړ، خو فقیه موسی شفیق یې بهرنیو چارو وزارت ته راوست.

شفیق ته په بهرنیو چارو وزارت کې عمر خوړلو مامورینو ښه راغلاست و نه وایه. کوم موټر او دفتر هم ورته ځانگړی شوی نه و. شفیق د بهرنیو چار وزارت د کارمندانو توند او پارونکی سلوک له پامه وغورځوه او ډېری وخت به یې په

---

[1] هاشمزی زیاتوي، په وزارت عدلیه کې اداري ریس زیاته هڅه کوله چې د عدلیې نوي وزیر سره د شفیق کړکېچنې کړي.

اړه ټوکې کولې. د وزارت ځوان کار کونکي چې ډیری یې د شفیق شاګردان او ملګري وو، د نوموړي ښه راغلاست ته راووتل. د شفیق یو ملګری حسرت وایي، چې هره ورځ به پریمانه عام وګړي وزارت ته د شفیق لیدو ته راتلل. دا چاره په وزارت کې هغه خلکو لپاره ناشنا او قبیلوي بریښېده چې له عامو وګړو یې واټن پیدا کړی و[1]. په همدې وخت کې شفیق فرانسې ته واستول شو، چې فرانسوي ژبه زده کړي. نوموړي فرانسوي ژبه په دریو میاشتو کې زده کړه. د شفیق دې لاسته ور وړنې په افغانستان او فرانسه کې ډیر خلک حیران کړي وو.

شفیق په ۱۹۶۸ کې په قاهره کې د افغانستان د سفیر په توګه وټاکل شو. نوموړي په مصر کې د سفارت پر مهال په لبنان، لیبیا، سوډان او یو شمېر نورو افریقایي هېوادونو کې د افغانستان استازیتوب کاوه. د قاهرې سربېره نوموړي په لبنان کې هم ډیر وخت تیر کړی و، چې هغه مهال یې افغانستان سره پیاوړې سوداګریزې اړیکې لرلې. په قاهره کې د سفارت پر مهال شفیق د حکومتي چارواکو او فکري کړیو تر منځ نامتو څېره وه. نوموړی په خپله هم شاعر و او هلته یې له ادبي چاپیریال خوند اخېست.

هغه له نامتو لیکوال طه حسین او د کلاسیکې موسیقۍ نوموتې څېرې ام کلثوم سره ملګرتیا پاله. شفیق په خپل ژوند کې د رسنیو لپاره مهمه څېره وه. نوموړی په عربي ژبه حاکم و او ښخوا یې هم په مصر کې وخت تیر کړی و، ځکه یې هلته له رسنیو سره ځانګړې اړیکې درلودې. قاهره کې د سفارتي دندې له پیل سره سم د مصر په رسنیو کې د افغانستان په اړه خبرونو او لیکنو کې دپاموړ ډیروالی راغی . په ډیپلوماتیک ډګر کې د شفیق تر ټولو یوه مهمه لاسته ور وړنه داده، چې د ایران او مصر تر منځ د اړیکو په نورمال کولو کې یې رول

---

[1] امان الله حسرت پخوا د بهرنیو چارو وزارت کارمند و، چې اوس امریکا غږ اشنا رادیو سره کار کوي.

ولوباوه. د دواړو هېوادونو د ډیپلوماتیکو اړیکو له پریکون راهیسې په قاهره کې افغان سفارت د شفیق په نوښت د منځګړي رول پیل کړ. شفیق هم د ایران او مصر تر منځ د خبرو اترو برخه وه، چې په پایله کې د دواړو هېوادونو تر منځ اړیکې بیا په ؟۱۹۶ کې پیل شوې. شفیق د تل په څېر په قاهره کې د افغان محصلینو له تعلیم او هوساینې سره ځانګړې لېوالتیا درلوده. هغه په خپله اونیزه اجنډا کې له زده کونکو سره کتنو ته وخت ځانګړی کړې و،چې ستونزو ته یې د حل لار پیدا کړي.

هغه وخت دود دا و چې ډېری افغان سفیرانو به زده کونکو سره د نوی کال په لومړی ورځ یا په ملي ورځو کې لیدل. هغه ځانګړې اړیکې چې شفیق زده کونکو سره رامنځته کړې وې، اوس یې هم خلک په اړه غږیږي.

شفیق په ۱۹۷۱ کې د ډاکتر عبدالظاهر په کابینه کې د بهرنیو چارو وزیر په توګه وټاکل شو. شفیق د ټیټې طبقې لومړی کس و چې په افغان کابینه کې دومره لوړ موقف ته ورسیږي. د هغه د ملګري سید احمد ګیلاني له خولې شفیق د وزارت مسولیت اخیستلو پر مهال زړه نا زړه و. شفیق فکر کاوه چې په سیاسي ژوند کې یې د دومره لوړ موقف قبلول له وخته مخکې خبره ده. خو کله چې یې د بهرنیو چارو وزارت مسولیت ومانه، د وزارت په کچه او د افغانستان اسلامي ګاونډیو سره د اړیکو په برخه کې یې د مهمو بدلونو راوستلو لپاره پیاوړی هوډ وښود. پر شوروي اتحاد د افغانستان د اتکا د راکمولو په موخه شفیق هیله څرګنده کړه ، چې هېواد یې باید د ناپیلتوب دودیزه تګلاره بیا وکاروي.

هغه په حقیقت کې د ناپییلو هېوادونو پر غورځنګ باور نه درلود، خو غوښتل یې چې د وسیلې په توګه یې وکاروي، چې افغانستان پرې د شوروي د نفوذ له ساحې راوباسي. د هغه رښتینې اراده دا وه، چې افغانستان په

ډیپلوماتیک ډګر کې د نړۍ نورو هېوادونو ته نږدې کړي. د شفیق دې تګلارې نه یوازې د هغه د نزول، بلکې د ګرد سیاسي سیستم د راپرځېدو سبب شوه. د شفیق د نوې تګلارې جریانونو په چپي کړیو کې شور او ګونګوسي راپورته کړل. کمونیستي ګوندونو په پټه د شفیق پر ضد پراخه کمپاین پیل کړ او په خپلو ورځپاڼو کې یې په نوموړي تور لګاوه چې ګوندې د اخوان المسلمین غړی دی.

شفیق هغه مهال د وزارت په جوړښت کې پر تغیراتو پیل وکړ ،چې خپل دفتر یې له نوې عصري ودانۍ څخه هغه زاړه قصر ته انتقال کړه، چې امیر حبیب الله خان جوړه کړې وه او وروسته د بهرنیو چارو وزارت ته ځانګړې شوې وه،خو ګودام ترې جوړ شوی و. د زړې ودانۍ زاړه فرنېچر بهرته پاک او پخوانی ښکلا یې را ژوندۍ کړه. شفیق غوښتل په دې کار سره د وزارت له برمه ډک دود را ژوندی کړي، چې څو لسیزې مخکې د شفیق د کارمندۍ پر مهال رامنځته شوی و. شفیق د وزارت په ادراي او بیروکراتیک سیستم کې د پاموړ اصلاحات راوستل. په وزارت کې له تغیراتو مخکې شفیق له خپلو پخوانیو ملګرو وغوښتل چې په دې برخه کې ورته وړاندیزونه وکړي، ځکه دوی د وزارت له ورځنیو چارو سره بلد وو.

د بهرنیو چارو وزارت ډیری کارمندان نازولي او د شاهي کورنۍ غړي او له امتیازه برخمن کسان وو، دیسیپلین او د مسولیت منل ورته په دودیزه توګه د دندې د مهمو اصولو په توګه نه ښکاریدل.

ددې ستونزې د هوارې په موخه شفیق د کار له پیل سره سم د حاضرۍ او اهتمام لپاره کلکه تګلاره جوړه کړه. په وزارت کې د پرمختګ پروسه یوازې د خدمتي بهیر د مودې په بنسټ نه، بلکې د رامنځته شوي امتحاني پروسې څخه وتل یو مهم شرط وګڼل شو. د ازموینې لپاره د نویو کارمندانو او دیپلوماتانو د

چمتو والي په موخه په وزارت کې د تاریخ، جغرافیې، نړیوالو اړیکو او ژبو یو انستیتوت تاسیس شو. دې انستیتوت د کنفرانسونو، سیمینارونو او د کارمندانو د علمي سویې د پرمختګ مسولیت هم پر غاړه درلود. نړیوالو کنفرانسونو ته بهر ته تلونکو کارمندانو به له راتګ وروسته د وزارت خپلو ملګرو سره تجربې شریکولې. پر دې سربېره، سفیران اړ و، چې له بهرني ماموریته د راستنېدو سره سم د اړوندو هېوادونو د روان وضعیت په اړه ارزونې له وزارت سره شریکې کړي. په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان په بهرنیو چارو وزارت کې د مالوماتو څانګه رامنځته شوه او د بهرنیو حکومتونو په اړه به د افغان حکومت رسمي غږ او دریځ له همدې ځایه استول کېده.

شفیق د وزارت په حیثیت ساتلو ټینګار کاوه. هغه غوښتل چې کارمندان یې بهرنیو دیپلوماتانو او ماموریتونو سره د لیدلو پر مهال د وزارت حیثیت په نظر کې ونیسي. د شفیق یو ټینګار دا و چې د بهرنیو چارو وزارت کارکونکي باید په کابل کې د بهرنیو سفارتونو په مراسمو کې د افغانستان دیپلوماتیک حیثیت په نظر کې ونیسي او پاملرنه ورته وکړي. په دې برخه کې د خپل جدیت څرګندولو په موخه شفیق یو لوړپوړی دیپلومات ځکه له دندې ګوښه کړی و چې فزیکي برخورد او د خپل دفتر ملګرو سره یې ستغه ژبه کارولې وه. شفیق د داکتر ظاهر د حکومت برخه وه او داسې افغانستان په میراث ور پاتې و چې د ۱۹۷۰ په دوبي کې وچکالۍ ځپلی و. دې وچکالۍ، د افغان اقتصاد د ملا تیر، کرنې ته ستر زیان اړولی و. وچکالۍ د لویدیځ او شمالي سیمو اوسیدونکي تر نورو ډیر ځپلي وو. د غلې دانې کمښت د اړینو خوراکي توکو بیې درې سوه فیصده لوړې کړې وې او دا د افغان ولس په نږدې تاریخي حافظه کې بیساری وضعیت و. خلک اړ شوي وو چې د خواړو موندلو په موخه نورو ولایتونو او کابل ته وتښتي. دوی خپلې شتمنۍ، او په ځینې ځایونو کې کوچنیان وپلورل. حکومت

ضد او چپي عناصرو داکتر ظاهر تر توندو نیوکو لاندې ونیوه ځکه د خلکو د ستونزو هوارولو په موخه یې کارنده اقدامات نه درلودل. کله چې لومړي وزیر خپل مرستیال داکتر صمد اغبزمن شویو ولایتونو ته واستوه، خلکو دا اقدامات ناوخته باله. د چپیانو له لورې لمسول شوي لاریونونه پیل شوي وو. خلکو د داکتر صمد موټر پر ډبرو وویشت او نوموړی مجبور شو، چې بیرته کابل ته ستون شي.

شفیق وېتیله چې خپله ملګرو ملتونو ته لاړ شي او د وچکالۍ ځپلي افغانستان عرض د نړۍ مخې ته کیږدي ځکه افغان اقتصاد ددې جوګه نه و چې دومره ستر رامنځته شوی ناورین په کور دننه مالي امکاناتو جبران کړي. هغه په هېواد کې بېړنی حالت اعلان کړ او د یوې خوځونکې وینا په ترڅ کې یې د وچکالۍ له امله افغان ولس ته رسېدلی زیان په ملګرو ملتونو کې د هېوادونو استازو ته ترسیم کړ. د شفیق وینا ته د ملګرو ملتونو غړیو هېوادونو ځواب مثبت و. یوازې متحده ایالاتو له افغانستان سره ۲۰۰۰۰۰ ټنه غله مرسته وکړه. نورو هېوادونو هم په کافي اندازه مرسته وکړه. د شفیق غوښتنې ته د نړۍ ځواب تر دې بریده مثبت و، چې افغانستان د کال په پای کې د غلې په برخه کې سپما درلوده. د حیرانتیا خبره خو دا وه هغه چپي ورځپاڼو چې داکتر ظاهر یې د وچکالۍ په مسله کې په بې کفایتۍ تورن کړی و، دا ځل یې د شفیق کاریکاتور رسم کړی و او هغه یې د کچکول پر غاړه سوالګر په بڼه انځور کړی و.

ددې ټولو هڅو سربېره، د داکتر ظاهر لپاره ډېره ناوخته وه چې د خلکو باور بیا تر لاسه کړي. نوموړی په ۱۹۷۲ کې اړ کړل شو، چې استعفا وکړي.

پاچا ظاهر شاه سمدلاسه له موسی شفیق نه وغوښتل، چې کابینه جوړه کړي. د یوې بشپړې مرکې په ترڅ کې ما له ظاهر شاه وپوښتل، چې کله یې د لومړي وزیر په توګه د موسی شفیق د ټاکلو پریکړه کړې وه. هغه زیاته کړه: ما

لومړی شفیق هغه مهال لیدلی و، چې په عدلیې وزارت کې یې د قوانینو په کوډبندۍ کار کاوه. د یو تکړه فقیه په توگه هغه زه خورا متاثره کړم. شفیق باجراته او قاطع ځوان و. د اساسي قانون د تدوین پر مهال ما شفیق نور هم وپیژنده . زه تل پر دې باور وم، چې شفیق به یوه ورځ خامخا لوړ موقف ته رسیږي، خو دا فکر مې نه کاوه، چې په دومره کم عمر کې.



شفیق په ۴۲ کلنۍ کې د افغانستان لومړی وزیر شو. دا چې پاچا څرنگه او کله دې پایلې ته رسېدلی و چې له شفیق د نوي حکومت د جوړولو غوښتنه وکړي، په اړه یې داسې وایي: اروپا ته د یو رسمي سفر په پای کې یوه شپه ناوخته مو د بهرنیو چارو وزیر موسی شفیق او دلومړي وزیر مرستیال صمد حامد سره ناست وو. موږ د کینې اړخو له لورې د رامنځته شوي اړ و دوړ، د هېواد اقتصادي وضعیت او د پاکستان و افغانستان د ترینگلو اړیکو په اړه مو بحث کاوه. سره له دې، چې داکتر صمد حامد پوه او مخلص انسان و، خو د بحث پر مهال یې نهیلي ښودله. زموږ تر منځ د نظریاتو د تبادلې جریان د شپې درې بجو ته ورسېد.

کله، چې د خوب ځای ته تلم نو شفیق راسره پر لاره ملگری شو او زه یې وهڅولم چې د افغانستان ستونزې که څه هم سترې دي، خو د حل وړ دي. د هغه استدلال دا و چې لومړی باید ټولې ستونزې د لمړیتوب له مخې په گوته کړو او بیا هره یوه جلا جلا هواره کړو. هغه ټینگار کاوه چې د ستونزو د هوارې په برخه کې د کلک هوډ او اصولو له مخې لاړ شو، او دې ته غوږ نه شو چې زموږ منتقدین څه وايي. د هغه نظریو او فعاله فکري ځواک زه یو ځل بیا متاثره کړم او دې پایلې ته ورسېدم چې افغانستان اوسمهال د شفیق په څېر شخصیت ته اړتیا لري.

پاچا زیاته کړه: دا د یادولو وړ ده ،چې په همدې سفر کې د بهرنیو چارو وزارت ته د شفیق د انتخاب په اړه خلکو زما پریکړه ستایلې وه. د حیرانتیا خبره دا وه، چې د دوه مختلفو ایدیالوژیو خلکو (چپیانو او نورو) د بهرنیو چارو وزارت مشرتابه لپاره د شفیق انتخابېدل ستایل. نامتو برتانوي سیاستوال الېک ډوگلس به له رسمي او نارسمي ناستو وروسته ویل: ستا ځوان وزیر نه یوازې دا چې د افغانستان د داخلي سیاست په اړه ژوره پوهه او نظر لري، بلکې د منځنې ختیځ په اړه یې نظریات هم د ستاینې وړ دي. کله چې موږ په همدې سفر کې مسکو ته ورسیدو، نو د شوروي لومړي وزیر الیکسي کسگین هم د شفیق ستاینې کولې.

# څلورم څپرکی

## لومړی وزیر او شهادت

شفیق د پاچا په ملاتړ او باور د لومړي وزیر په توګه خپله دنده پیل کړه. هغه له پارلمان څخه ډېر ژر د باور رایه تر لاسه کړه. فرهنګ چې د شفیق د استعداد او فعالیت ستاینه کوي، وایي چې په پارلمان کې د نوموړي بریا د هغه له بخت سره هم تړاو لري ځکه د لومړي وزیر په حیث د ټاکلو وخت یې د دیارلسمې تقنیني دورې په پای کې و. ټولو وکیلانو غوښتل چې پارلمان ته بیا انتخاب شي، ځکه یې نه غوښتل د نوي ټاکل شوي لومړي وزیر سره اړیکې خرابه کړي. له بل لورې کشککی په پارلمان کې د شفیق بریا د هغه له سیاسي پوهې او زیرکتیا له امله بولي. شفیق د پارلمان له غړو سره وار له مخې لیدلي وو او هڅولي یې و چې د نوي حکومت د وخت ضایع کول خطرناک دي ځکه، چې د هېواد حالات په حساسو شېبو کې و او له مالي او سیاسي ستونزو سره لاس و ګریوان و.

شفیق د خپلې تګلارې له مخې د پارلمان له غړو سره ښې اړیکې غوښتلې، ځکه یې په همدې موخه د پارلمان په ودانۍ کې د لومړي وزیر دایمي دفتر پرانېست. د لومړي وزیر په توګه شفیق هلته مسلسل تګ راتګ کاوه چې د پارلمان وکیلانو سره شخصي اړیکې وساتي. د شفیق ددې تګلارې په مټ د (قانوني دورې) پر مهال د لومړي ځل لپاره حکومت سره د پارلمان همکاري

زیاته شوه او د شفیق په لنډه کاري موده کې له پارلمان نه په بیسارې توګه زیات قوانین پاس شول.

بهرینو هېوادونو سره د اړیکو په اړه شفیق همغه تګلارې ته مخه کړه چې د بهرینو چارو د وزیر په توګه یې حکومت ته جوړه کړې وه. د هغه د حکومت تر ټولو مهم پلان دا و چې اسلامي ګاونډیو سره د افغانستان اړیکې ښې کړي. د افغانستان او ایران تر منځ د اوبو په سر د شخړې هوارول د شفیق په اجنډا کې لومړیتوب درلود.

د حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال د برتانیا منځګړی هیت چې مشري یې هینري مکمهن کوله پریکړه کړې وه چې د دواړو هېوادونو په پوله به د اوبو دریمه برخه د ایران وي. دواړه ګاونډیو د اوبو دا ویش منلی و.

د ظاهر شاه د واکمنۍ په پیل او د افغانستان او ایران تر منځ د ترینګلو اړیکو له یو فصل وروسته یو نوی هوکړه لیک لاسلیک شو چې له مخې به یې د هلمند اوبه د دواړه هېوادونو تر منځه په مساوي توګه ویشل کیږي. ددې هوکړه لیک ځینې برخې افغان پارلمان ته د منلو وړ نه وې او له همدې امله د اوبو د ویش په سر ستونزه همداسې ناحله پاتې شوه. د ناندریزو اوبو پر سره خبرې بیا د [1]نور محمد اعتمادي د لومړي وزارت پر مهال پیل شوې، مګر سبوتاژ شوې. په پارلمان کې د کابل ولایت استازی محمد اسحق عثمان د داود خان ملاتړی و. د اوبو په سر د تړون مادې او مهم شرطونه د اسحق عثمان لاس ته لویدلي و، نوموړي دا مادې پارلمان ته وړاندې کړې او تړون یې د حکومت له لورې د افغانستان د ملي ګټو پر ضد دسیسه وبلله. اعتمادي شکمن و چې

---

[1] اعتمادي د داود کلک ملاتړی و. نوموړي د خپلو حکومتي تګلارو په اړه پخواني لمړي وزیر سره مشورې کولې. د ظاهرشا د ملاتړو سربېره ډیری خلکو نیوکې کولې چې ولې یې د داود ملاتړی د لمړي وزیر په توګه ټاکلی.

گوندې داود ددې تړون د سبوتاژ هڅونکی دی، څکه يې په دې موضوع تيره کښنوده.

شفيق ژمن و، چې دا موضوع د تل لپاره هواره کړي، ايراني چارواکو سره يې خبرې اترې بيا پيل کړې. د اوبو پر سر وروستي تړون د ۱۹۷۳ د مارچ په دولسمه شفيق او د ايران لومړي وزير عباس هويدا لاسليك کړی. شفيق بريالی شو چې د تړون پر مټ ايران ته د بهيدونکو اوبو کچه له شل سلنې راښکته کړي او دا موضوع په تړون کې خوندي کړي.

ايران ژمنه وکړه که له افغان پولې ايران ته له ټاکل شوې کچې زياتې اوبه بهيږي نو دوی به افغان حکومت ته پيسې ورکوي. سره له دې چې د اوبو په سر افغان – ايران تړون د افغانستان په گټه و، پر ضد يې د مخالفت يوه متحده جبهه جوړه شوه. په دې جبهه کې د داود هغه ملاتړي هم وو چې د هرې حکومتي تگلارې مخالفت يې کاوه، ځينې پښتنو د کلتوري او ژبنيز تبعيض او چپيانو د سياسي وجوهاتو له امله ايران سره د تړون مخالفت کاوه. حتی ميوندوال ايراني چارواکو سره د شفيق د خبرو اترو پر ضد خپل مخالفت اعلان کړ. د فرهنگ په قول، ميوندوال خپله پخوا د اوبو په سر د خبرو اترو غړی و او په لوی لاس يې ايران ته له افغانستانه د بهيدونکو اوبو ستره برخه ورکړې وه[1]. له بل لورې، چپيانو ايران سره د اوبو په سر د شفيق تړون د خاورې پلورلو سره تشبيه کاوه، خو خپله يې په شوروي اتحاد د افغان طبيعي گاز پلورلو لپاره لابي کوله.

شفيق يو ځل بيا د پارلمان غړو سره مستقيم بحثونه او خبرې پيل کړل. د هلمند د تړون د لاسليك له مراسمو لږ مخکې شفيق يوه غير عادي وينا وکړه چې د افغانستان راديو په ژوندۍ بڼه خپروله. شفيق د افغاني ټولنې په ټولو

---

[1] په ۱۹۷۷ کې داود چمتو و داسې تړون لاسليک کړي چې د ايران په گټه برابر شوی و.

اړخونو وغړېده او زیاته یې کړه، افغانان حق لري داسې وخت کې اندېښمن شي، چې د هېواد ګټې یې تر سوال لاندې وي.

زه د افغانانو پر طبیعي پوهې کلک باور لرم. زه نن یو ځل بیا ددوی پر پوهه باور کوم. موږ له خپل توان سرم سم ټول هغه څه وکړل، چې فکر کوو د هېواد خیر په کې نغښتی دی.

شفیق زیاته کړه، ددې تړون په اړه وروستۍ پریکړه د افغان پارلمان پورې اړه لري، ځکه دا د ولس د ارادې مظهر دی. له دې وروسته به دا مسله پاچا ته راجع کیږي ځکه هغه د ملي استقلال او ازادۍ وروستۍ مرجع ده. شفیق له دې وروسته ایران سره د هلمند تړون لاسلیک کړ.

د شفیق په هڅو کې ګاونډیانو سره اړیکې د افغانستان د ملي ګټو له نظره د هوارولو هوډ موجود و. شفیق همداراز غوښتل چې د پښتونستان مسلې هوارولو ته هم لار پیدا کړي. شفیق په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل: موږ باید دا په یاد ولرو چې د پښتونستان مسلې سربېره د هرې بلې مسلې د هوارولو په لار کې باید د افغانستان ملي ګټې په هر څه مقدمې کړو. ظاهر شاه هم د شفیق د موقف په روښانولو کې مرسته کوله. شفیق پر دې کلک باور درلود چې د پښتونستان کړکېچنه سیمه د افغانستان د خاورې برخه وه، خو هغه شک درلود چې د پښتونستان په نوم یو ازاد هېواد دې د افغانستان په ګټه وي. هغه باوري و چې په دې حالاتو کې تر ټولو ښه او مثبت کار پاکستان سره د دوستانه بحثونو باب پرانېستل دي. په ۱۹۷۷ کې د پاکستان لومړي وزیر بوټو سره د داود خان له لورې د نویو رامنځته شویو دوستانه اړیکو د بحث پر مهال ما شفیق سره وروستۍ لیدنه درلوده. ما د پښتونستان د مسلې په اړه د شفیق نظر وغوښت. هغه زیاته کړه، حقیقت دادی چې افغانستان اوسمهال په اقتصادي لحاظ پیاوړی او پر ځان بسیا نه دی، د کرښې بلې غاړې ته پښتانه به هېڅکله دا هیله څرګنده نه

کړي چې افغانستان سره یو ځای شي حتی که د پښتنو په سیمه کې د ټولپوښتنې د تر سره کولو سره موافقه او قرارداد هم ومنل شي.

شفیق او بوټو دې پایلې ته ورسېدل چې د اوس لپاره دا د دواړو هېوادونو په ګټه ده، چې دا مسله یو اړخ ته کړي خو په دې شرط چې افغانستان اوسنی وضعیت د دایمي حل په توګه نه مني.

د شفیق حکومت لپاره یو بل پیاوړي ګاونډي چین سره هم اړیکې مهمې وې. خو د پخوا په څېر ګاونډیانو سره د افغانستان د اړیکو د پرمختګ ټولې هڅې د شوروي له لورې د اقتصادي ګواښونو په مټ سبوتاژ کېدلې. شفیق غوښتل افغانستان له داسې ګواښونو راوباسي او هیله یې درلوده چې ایران، پاکستان او منځنۍ ختیځ سره سوداګریزې اړیکې رامنځته کړي. شفیق اراده نه درلوده چې شوروي سره مخالفت راوپاروي، خو هغه غوښتل د افغانستان په بهرنیو اړیکو کې ثبات او تعادل رامنځته کړي. فرهنګ لیکي چې د لومړي وزیر په توګه د شفیق له لنډې کاري دورې سرې دا اقتباس کولی شي چې نوموړي غوښتل په بهرنۍ پالیسۍ کې په شوروي د افغانستان سرسامه اتکا را کمه او د هېواد بهرنۍ تګلاره د رښتیني ناپیلتوب پر کلتور برابره کړي.

شفیق د ناپییلتوب د تګلارې د تطبیق په موخه کابل ته د شوروي په ګډون د ټولو ګاونډیو هېوادونو د سیاسي مشران راوبلل. پخوا به افغان مشران واک ته له رسېدو سمدستي وروسته مسکو ته د درناوي سفر کاوه تر څو شوروي ته ډاډ ورکړي چې د مسکو په خوښه به بهرنۍ تګلارې ته دوام ورکوي. د بهرنۍ پالیسۍ په برخه کې د پخوانیو مشرانو برعکس سلوک ددې لامل شو چې نیکولی پودګرنی په ۱۹۷۳ کې کابل ته په رسمي سفر راشي. شفیق له همدې فرصته په ګټه اخېستلو دا خبره واضه کړه چې د هلمند تړون یوازې د افغان اقتصاد د پرمختګ لپاره دی، هیڅوک باید ورته د ناوړه یا دښمنانه اقدام په

سترګه و نه ګوري. همداراز، د چپي عناصرو د فعالیتونو مخنیوې په اړه د حکومت پلان هم باید د مسکو-ضد تګلارې په توګه تعبیر نه شي. لس کاله وروسته ظاهر شاه په ۱۹۸۳ کې یوې فرانسوي ورځپاڼې سره د مرکې په ترڅ کې د شفیق د ناپییلتوب تګلاره تاید کړه او زیاته یې کړه: ما هېڅکله په کوم شوروي ضد تړون کې د ګډون اراده نه درلوده او افغانستان هېڅکله شوروي لپاره د ګواښ سرچینه نه وه.

اسلامي نړۍ سره د اړیکو د پیاوړي کولو په موخه شفیق د اسلامي همکاریو سازمان کې له ناستو او ګډون ګټه پورته کوله. د اسلامي خوا خوږۍ د مفهوم د وضاحت په پلمه شفیق په جده کې د اسلامي همکاریو سازمان یوې غونډې ته داسې وویل:

ددې کنفرانس د دایرولو مهمه وجه دا باور دی ،چې اسلامي هېوادونه د مشترکې کلمې پر مټ کولی شي یو ځای راټول شي او په خپلو کې ګډ پوهاوی رامنځته کړي. موږ د کوم ځانګړي هېواد پر ضد د سیاسي بلاک رامنځته کولو اراده نه لرو. ددې کنفرانسونو پر مټ زموږ هدف دادی چې د اسلامي هېوادونو تر منځ د ورورولۍ او اسلامي اړیکې پیاوړې کړو. موږ همداراز غواړو خپل تمدن، کلتور او میراث خوندي کړو، او دا کارونه په عدالت، تحمل او بې تبعیضۍ باندې ولاړ دي.

شفیق د هغې طرحې ملاتړ کاوه چې په تهران کې د اسلامي همکاریو تیرې غونډې ته د اسلامي خبري اژانس د رامنځته کولو په موخه وړاندې شوی و. نوموړي هم وړاندیز وکړ چې په اسلامي هېوادونو کې دې د اسلامي کلتور او ثقافت مرکزونه جوړ شي. دا مرکزونه باید ټول تمرکز د اسلامي عقیدې او اصولو وضاحت او سپیناوي ته ځانګړې کړي. نوموړي همداراز د اسلامي تحقیقاتو او ریسرچ د مرکز د تاسیس وړاندیز هم وکړ. شفیق به ویل: موږ د چټک بدلون په

عصر کې اوسیږو. دا بدلونونه په مادي، معنوي او د بشریت غوښتنو کې رامنځته کیږي. دا زموږ دنده ده چې ددې اړتیاو پوره کولو لپاره لارې او امکانات پیدا کړو. ددې مرکز یو هدف د اسلامي هېوادونو تر منځ د هڅو همغږي کول و، چې خلك ددې جوګه کړي چې نویو بدلونونو سره مخ شي او هغه تغیرات وپیژني چې د اسلامي اصولو مطابق دي.

شفیق چې کور دننه له کومو ننګونو سره مخ و تړاو یې د هغې بهرنۍ تګلارې سره هم درلود. د هغه د اجنډا لومړی برخه د افغاني ټولنې د اسلامي انځور په اړه د تېرو حکومتونو بې تفاوته تګلاره بدلول و. راډیو افغانستان د شفیق په حکومت کې پنځه وخته اذان او لنډه خطبه خپرول پیل کړل. نوموړي د هغه نایټ کلب د بندولو امر وکړ چې په کابل ښار کې د جومات مخې ته جوړ شوی و. دې کار د مذهبي او دودپاله افغانانو تر منځ د شفیق محبوبیت زیات کړ. شفیق هغه وخت له لومړۍ شخړې سره مخ شو چې د یوې کلیسا د ویجاړولو امر یې وکړ. یو څو کسانو د افغاني اتباعو په مرسته کابل کې په دې پلمه د ځمکې یوه ټوټه اخېستې وه چې ړندو افغان وګړو لپاره په کې مرکز او د مطالعې ځای جوړوي. خو دوی په حقیقت کې ړانده افغان وګړي عیسویت ته اړول. دې خبر په اسلامي کړیو کې غالمغال راپورته کړ. د کلیسا له ویجاړیدو وروسته شفیق په ورځپاڼو کې د هغو کسانو له لورې د انتقادونو تر باران لاندې راغی چې په دې ځای کې یې مالي ګټې نغښتې وې. له لویدیځ څخه متاثره نخبه طبقې د هېواد له قانون څخه په ناخبرۍ د شفیق ناصبري وغندله او پر نوموړی یې د اخوان المسلمین ګوند ټاپه ووهله. دوی ادعا کوله چې شفیق دا کار پاچا سره له مشورې پرته کړی دی.

ددې پېښې د وضاحت پر مهال ظاهر شاه وویل، داود خان به د عادت له مخې زه له پېښو وروسته خبرولم او نور لومړي وزیران به زما امر ته منتظر وو.

خو ددوی برعکس، شفیق به تل اقدام کاوه ما سره به یې د بحث په موخه نظر شریکاوه او زما په ملاتړ او د وزیرانو د شورا په ملاتړ به یې کار کاوه. پاچا زیاته کړه، موږ د کلیسا د موضوع په اړه اوږد بحثونه کړي. شفیق استدلال کاوه که د اخوان المسلمین ملاتړو کلیسا ویجاړه کړې وه، نو دې به د حکومت صلاحیت او حیثیت د خلکو په نظر کې کمزوری راوستی و. د اسلام د حیثیت او د حکومت د واک د برم ساتلو لپاره به غوره وي چې موږ د کلیسا په اړه تصمیم ونیسو. شفیق د ۱۹۷۳ د جنوري په دویمه په یو مطبوعاتي کنفرانس کې ژمنه وکړه چې په هیڅ ډول حالاتو کې به اسلامي اصول د مصلحت ښکار نه کړي او په پوره هوډ به د اسلام ضد تمایلاتو مخنیوی وکړي. د شفیق د اسلامایزیشن پروګرام ورځ تر بلې مشهوریده. په اړه یې د ګهیځ ورځپاڼې کاږلي و: د اسلام ضد تمایلاتو د مخنیوي په هکله د لومړي وزیر جرات او مناسبه ژبه د ستایلو وړ ده. د تاریخ په دې شېبو کې د هر لومړي وزیر تر ټولو مهمه دنده د اسلام په چوکاټ کې د پرمختګ پروګرام رامنځته کول دي. له دې وروسته اسلام پلوه ګوندونو په عامو لاریونو کې ګډون ونکړ.

د پارلمان له لورې د بهرنیو پورونو د منلو ټکنی پروسه په افغانستان کې د کم اغېزه پرمختیایي پروګرامونو یو لامل و. د شفیق د حکومت په لومړیو میاشتو کې پارلمان د ۱۹۷۲-۷۳ مالي کال بودیجه تصویب کړه خو د تصویب وخت یې د شفیق د کار له پیل نهه میاشتې مخکې تېر شوی و. د شفیق حکومت د شوروي اتحاد هغه سل میلونه روبل پور هم تصویب کړ، چې د څلورم اقتصادي او ټولنیز پرمختیایي پلان لپاره ځانګړی شوی و. هغه ۹۵ میلیون ډالر پور چې د چین، امریکا، برتانیا، چک و سلواکیا، بلغاریا، نړیوال بانک او د اسیا پرمختیایي بانک له لورې افغانستان ته وړاندیز شوی و، ټول له پارلمان نه پاس شو او حکومت ته صلاحیت ورکړل شو چې نورو هېوادونو سره ۴۷ نورې معاهدې

وکړي. په دې سربېره، د کرهنې او ابیارۍ د پرمختګ یوه پروژه نړیوال بانک سره په ګډه پیل شوه او موخه یې د هېواد د صادراتو زیاتول و. د صنعتي پرمختګ او ودې په موخه یې صنعتي بانک هم تاسیس شو. په لوګر کې د نړیوال هوایي ډګر د تعمیر یوه پروژه هم د نړیوال بانک په مالي مرسته منظور شوه.

بېسوادۍ سره د مبارزې په موخه حکومت د ملګرو ملتونو په مرسته ملي اداره رامنځته کړه. ددې ادارې موخه د ۱۸-۲۸ عمرونو تر منځ افغانانو روزل و. د لوړو زده کړو لپاره جلا وزارت را منځته شو.

شفیق پر مطبوعاتو کلک باور درلود. د افغانستان د ژورنالېزم په تاریخ کې دا لومړی ځل و چې د وزیرانو له جلسې وروسته به مطبوعاتو سره مالومات شریکېدل. د حکومت دوه ورځپاڼې، انیس او اصلاح یو ځای شوې او د لومړي ځل لپاره یې هره ورځ په ولایتونو کې ویش پیل شو. ددې کار هدف په ملي مسلو کې د نورو ولایتونو شاملول و. د ناحکومتي ورځپاڼو د تداوم د یقیني کولو په خاطر حکومت ددوی د لګښتونو شل سلنه تمویل په غاړه واخېست. ازادو مطبوعاتو سره د شفیق د چلند په اړه لویس دوپري ویل، حکومت لږ تر لږه ازادو مطبوعاتو سره ښې اړیکې رامنځته کړې دي.

د شفیق نوم به تل د ۱۹۶۴ د اساسي قانون سره یادیږي. یو شمېر مادې چې شفیق پخوا تدوین کړې وې، د پاچا لخوا یې په اړه پریکړه وشوه چې د سیاسي ګوندونو او ازادو مطبوعاتو رامنځته کولو لپاره یې معطل کړي. دا مسله لومړي وزارت ته د شفیق تر رسېدو پورې معطل پاتې شوې وه. د افغانستان د اساسي قانون په ساحه کې د شفیق پخوانیو هڅو او د هغه کلک باور ته په کتو، دا حیرانونکې نه وه چې نوموړي د صدارت پر مهال پریکړه وکړه چې دا دواړه مسلې هوارې کړي.

کابل ټایمز ته په لیکل شوې مقاله کې دشفیق له خولې راغلي و، د سیاسي ګوندونو شتون د دیموکراسۍ بنسټ جوړوي، له دې امله یې د افغانستان په اساسي قانون کې ځای پیدا کړ. دا د حکومت وظیفه ده چې تطبیق یې کړي. د مقالې لیکوال سره ظاهر شاه د سیاسي ګوندونو د قانوني کولو په اړه داسې وویل:

کله چې د اساسي قانون لومړۍ بڼه او ضمیمه شوي کوډونه لویې جرګې ته وړاندې شول، کمونیستي جبهه په افغانستان کې هغه مهال یوازینۍ فعاله سیاسي ډله وه. ما او د شفیق په شمول د تدوین د کمېټې نورو غړو موافقه وکړه چې د نابېره سیاسي ازادي به له خلکو لار ورکه کړي او ګوندونو سره د یو ځای کېدو په مسله کې به د سرګردانۍ ښکار شي. موږ فکر کاوه چې د وخت په تیریدو به خلك تازه زیږیدلې دیموکراسۍ سره بلد شي او دومره سیاسي بلوغ به پیدا کړي چې د وارد شویو سیاسي مفکورو په ځای به د خپلو ملي او مذهبي ارزښتونو په بنسټ سیاسي ګوندونه جوړ کړي.

نهه کاله وروسته شفیق د ګوندونو مسله بیا پاچا سره راپورته کړه او باور یې درلود چې که څه هم چپي ګوندونه د تمویل ښې سرچینې لري، مګر ددوی شتون قانوني کول به حکومت ددې جوګه کړي چې په ټولنه کې یې رول کم کړي. شفیق محسوسوله چې افغان ولس اوس دا وړتیا لري چې کور دننه ایډیالوژۍ رامنځته کړي[1]. پردې سربېره، شفیق باور درلود چې د سیاسي ګوندونو کنترول او قانوني کول به د ناسمو مالوماتو خپراوی او مظاهرې کمې کړي او د خلکو پاملرنه به رغنیز سیاسي مشارکت ته واړوي. د شفیق له صدارت مخکې دوره د کمونیستانو له لورې د پارونکو اقداماتو شاهده وه. دا اقدامات

[1] د پژواک د خبریال په قول، داسې اوازې وې چې شفیق پاچا ته د سیاسي ګوندونو د قانون د نه لاسلیک کولو مشوره ورکړې وه.

په پوهنتونو او ښوونځیو کې ډېر تر سترګو کېدل او اعتصابونو او لاریونو ته یې لار پیدا کوله. د شفیق حکومت د سیاسي ګوندونو د کنترول سربېره د مظاهرو او عامه ناستو د کنترول لپاره هم مقرره چمتو کړې وه. په دې مقرره کې حکومت حق درلود چې د مظاهرو وخت او ځای وټاکي، او که په لاریون کې د تاوتریخوالي پېښې رامنځته کیږي نو پولیس کولای شي چې لغوه یې اعلان کړي. که لاریون کونکو د پولیسو امر ته غاړه کېنښوده، نو پولیس کولای شي، چې د لاریون کونکو د تیت و پرک کولو لپاره له زوره کار واخلي. که په سختو حالاتو کې د خلکو امنیت ته ګواښ پېښیږي، نو پولیس کولای شي پر لاریون کونکو ډزې وکړي. د مظاهرو دا ډول قانون په پارلمان کې له سخت مقاومت سره مخ شو.

د شفیق په کابینه کې د کورنیو چارو وزیر نعمت الله پژواک وایي، کله چې لومړی وزیر پوه شو چې پارلمان د مظاهرو د قانون د تصویب مخه نیسي، نو په پټه یې د وزیرانو د شورا سکرتر ته امر وکړ، چې د قانون عنوان بدل او په ځای یې د مظاهرو د کنترول مقرره ولیکي. د افغانستان د قوانینو له مخې، د مقررې تصویب یوازې د وزیرانو شور او لومړي وزیر پورې اړه لري. همداراز، د قانوني سند په پرتله یې وزن هم کم وي. قانوني سند د تصویب لپاره پارلمان ته ځي او له هغه وروسته د پاچا لاسلیک ته استول کیږي. پژواک د کورنیو چارو د وزیر په توګه ددې ډول قوانینو او مقررو تطبیق کونکی و. هغه لیکي: ما په جلسه کې خپل مخالفت څرګند کړ او ګواښ مې وکړ که لومړی وزیر ددې مقررې پر تصویب ټینګار وکړي زه به له دندې استعفا وکړم. باالاخره شفیق پریکړه وکړه، چې دا موضوع وځنډوي. پژواک زیاتوي، زه حیران شوم چې څنګه پوه موسی شفیق او د اساسي قانون اتل دا کار وکړ.

په سیاست کې د افغان ولس د رغنده مشارکت په موخه شفیق پاچا ته وړاندیز وکړ، چې په ولایتي کچه جرګې رامنځته کړي. ظاهر شاه ویل، د شفیق اداري په حقیقت کې حکومتي دستګا ته نوې ساه ورکړه او د ښوونځیو او پوهنتونونو په کچه سیاست پلوه زده کونکي را ویښ کړل. د هیلو او پر حکومت د خلکو باور زیاتېدو سره سم د مظاهرو په شمېر کې د پام وړ کموالی راغی. زما په نظر د ملي همکارۍ دا احساس هم پر دولت باندې د خلکو د باور رامنځته کولو لپاره د شفیق د کار له امله و.

په پوهنتون کې د هغه د تدریس او ویناو له منځپانګې مالومېږي چې شفیق تل د مالکیت د احساس پیاوړي کولو په هڅه کې و او په ملي مسلو او سیاست کې یې په فردي مشارکت ټینګار کاوه. شفیق په خپلو ویناو کې له خپل شاعرانه مهارت کار اخېست او خپل پیغام به یې لنډ التجایي انداز کې خلکو ته رساوه. د شفیق د ویناو دا انداز خورا اغېزناک و، ځکه خلک له اوږدو رسمي ویناو ستړي وو.

د قانوني دورې ډېری ناظرین باور لري چې دوه څیزونه د شفیق د پرځېدو لامل شو: د شاهي کورنۍ ځینې غړو سره له شفیق اختلافات او دویم دا چې وسلوال پوځ د شفیق د حکومت په کنترول کې نه و. کشککی کاږي، د شاهي کورنۍ ځینې غړي د هېواد وضعیت اندیښمن کړي وو. دوی پوهېدل چې نور یې پر هېواد د نفوذ د ختمېدو وخت را رسېدلی دی. له یو لورې دوی د داسې یو ژمن لومړي وزیر سره مخ و، چې د قانون د تطبیق هوډ یې درلود. د شفیق اساسي قانون داسې مادې درلودې چې د شاهي کورنۍ غړي یې په سیاست کې له ګډون منع کول. له بل لورې، د لومړي وزیر ناکامۍ د ټول سیاسي سیستم د پرځېدو لامل کېدل. کشککی زیاتوي، شفیق له ستونزې پوره خبر و. شفیق داده و چې د پاچا ملاتړ ورسره دی، ځکه یې غوښتل د شاهي کورنۍ غړي د قانون

په چوکاټ کې یوازې د ټولنیزو خدمتونو تر ساحې را محدود کړي. د اوازو او گونگوسو د کم رنگه ښودلو په پلمه پاچا ویل، یوازې سردار داود خان دی چې زما د لومړي وزیرانو، په ځانگړي ډول د شفیق مشرتابه ته منفي غبرگون ښایي. له داود پرته، په شاهي کورنۍ کې زه داسې څوك نه پيژنم چې شفيق يا د هغه له تگلارو سره دې مخالفت ولري. پاچا زیاته کړه، په شفق د شاهي کورنۍ یوازینۍ نیوکه دا وه، چې خپل دفتر یې خورا مزین او ښکلی کړی دی.

کله چې ما دا موضوع له شفق سره راپورته کړه، د نوموړي وضاحت او توجیه دا ډول وه: له قانوني دورې مخکې دا دفتر د شاهي کورنۍ غړو سره و او د خپل نخبه توب پر مټ یې ددې دفتر حیثیت او برم ساتلی و. اوس زما لپاره دا اړینه ده چې د کیفي اقتدار سربېره یې ظاهري بڼه هم ښکلې وساتم.

شفق په خپلو عامه اړیکو خورا ټینگار کاوه، په ځانگړې توگه هغه اړیکې چې د خپلو زده کونکو او کارمندانو سره یې رامنځته کړې وې. د حیرانتیا خبره دا وه چې نوموړي هېڅکله هغه انتقادي تبصرو ته توجه و نه کړه چې خلکو به د هغه په شخصي ژوند او ظاهري بڼه کولې. د افغانستان په څېر دوديزه ټولنه کې د شفیق د کالیو او ويښتانو ستایل نوموړی داسې بریښاوه لکه د فرانسې فلمي ستوری، نه لومړی وزیر. د شفق جذابه او زړه راښکونکې ظاهري بڼې د خلکو په منځ کې اوازې راپورته کړې وې، چې نوموړی عیش او عشرت خوښوي. ځینو خلکو په نوموړي تور پورې کاوه چې ځان خوښی دی. فرهنگ کاږي، قیمتي او ښکلې جامې د شفیق د ضعف نقطه وه. کله چې نوموړی لومړی وزیر شو، نو دومره د ظاهري ښکلا په مراعاتولو کې دومره ښکېل شو چې مخالفینو یې پر ضد همدا ټکی کاراوه.

د هغه زوړ او پخوانی ملگری سید احمد گیلاني وايي د شفيق زیب و زینت یوازې د کالیو تر کچې محدود و. په کابل کې د هغه دوه اطاقه کور په متوازنه

کچه په خوندورو افغاني لاسي صنایعو او فرنېچر پسولل شوی و. ګیلاني زیاتوي، د شفیق د داخلي کړې د ملګرو شمېر ډېر کم و، له دې امله ډېرو کمو خلکو کولای شو د هغه استوګنځای وګوري. شفیق خپل شخصي ژوند ته ستر ارزښت ورکاوه. د هغه بل ملګری صمد حامد یې په اړه داسې وایي: شفیق له خپلو ملګرو سره صمیمانه او مهربانه چلند کاوه، خو د هغه تر ټولو نږدې ملګرو هم نه شو کولای شخصي ژوند ته یې ننوزي. د شفیق یو خوی دا و چې خپله رخصتي ورته ډېره مهمه وه . دا ډېره ناممکنه وه، چې د رخصتۍ په ورځو کې دې څوک شفق ته مزاحمت وکړي.

شفیق په لوړپوړو حکومتي چارواکو کې تر ټولو ډېر زیارکښ و. پژواک د شفیق په اړه کاږي: هغه به د شپې تر ناوخته کار کاوه او په خپل فارغ وخت کې به یې د پارلمان غړو او بهرنیو سفیرانو لیدل. پژواک شکایت درلود او ویل یې، زه د کورنیو چارو وزیر یم، خو د رخصتیو په ورځو کې شفیق سره په ډېرې سختۍ په اړیکه نیولو توانېږم. سید احمد ګیلاني وایي، شفیق په حقیقت کې خپلو رخصتیو ته ارزښت ورکاوه، هر انسان حق لري چې دمه وکړي، په ځانګړې توګه هغه انسانان چې د شفیق په څېر ستر مسولیتونه لري. د خلکو له لورې په شفیق د نیوکو په اړه نوموړی وایي که شفیق د زړه راښکونکو کالیو، اوږده ویښتانو او ارامه رخصتیو شوقي وي، نو زما په نظر خورا نېکمرغه انسان دی.

د ۱۹۷۳ کودتا نه یوازې د شفیق سیاسي ژوند بلکې قانوني دورې ته هم د پای ټکی کېښود. دا یوه معما ده چې ایا د شفیق چټکې بریا کېن اړخه وارخطا کړي وو که د قانوني دورې په اړه د خلکو په قانع کولو کې ناکامي . په دې اړه خلک مختلف تحلیلونه لري. ریچرډ نیورل د شفیق د حکومت شننه او ارزونه کړې وه. نوموړی وایي، شاهي کورنۍ چمتو نه وه چې افغان سیاست سره په

بشپړه توګه پریکون وکړي، له دې امله د قانوني سیستم په بدلون کې د شفیق هڅې له لومړي ورځې له ننګونو سره مخ وې. ظاهر شاه دا نظر ردوي او وایي چې د دیموکراتیک کولو پروسه اسانه کار نه دی، خو موږ یې باید سر ته ورسوو.

ما د شفیق په بڼه داسې یو لومړی وزیر پیدا کړی و، چې دې کار ته ژمن و. نوموړی زما په پلانونو او د افغان ولس په ذهنیت پوه و. ظاهر شاه باور درلود چې دیموکراسي ناکامه شوې نه ده، بلکې هڅول شوې کودتا یې مخه ونیوله.

کشککی کاږي، د شفیق فعالیتونو په حقیقت کې د کودتا په شکل یو غبرګون راوپاروه چې په پایله کې یې شاهي نظام هم منځه لاړ.

شوروي اتحاد له مستقیم مشارکت پرته د پوځي کودتا په رامنځته کولو کې بریالي شول. نوموړی زیاتوي، کله چې داود د خپلې کابینې د وزیرانو نوملړ اعلان کړ، نو له دیارلس وزیرانو څخه اته یې پاخه چپیان وو. له همدې څخه د داود د کودتا اصلي موخه مالومه شوه. د کشککي په قول، د شفیق لاسته را وړنو په مسکو کې د خطر زنګ وواهه. احمد ګیلاني دې شننې سره موافق دی او وایي چې د شفیق له لاسته راوړنو د لومړي ځل لپاره روسانو دا درک کړه چې په افغانستان کې د انقلاب د رامنځته کولو احتمال ورځ تر بلې کمیږي. امکان موجود و چې لومړی وزیر به د وسلوال پوځ واک په خپل کنترول کې واخلي، همدې ویرې شوروي وهڅاوه چې وار له مخه په افغانستان کې پوځي کودتا وکړي. په حقیقت کې داود هم له ورته تګلارې په ۱۹۷۹ کې کار اخیستی و چې د پرځېدو لامل یې شوه.

د ۱۹۷۸ د جولای په اووم ماښام د داود واک ته له رسېدو سره سم شفیق ونیول شو. نوموړی لومړی د لومړي وزیر په مانۍ کې شکنجه شو. شفیق راتلونکې دوه کاله په کابل زندان کې تېر کړل، د پولیسو د دویمې قطعې داود

پلوی قومندان عیسی نورزدا یې ساتونکی و. نورزاد وايي، کله چې مې شفیق د لومړي ځل لپاره ولید، نه پوهېدم څه توقع ترې ولرم ځکه دا لومړی ځل و چې په زندان کې د لمړي وزير څارنه کوم. د شفیق پوهې، شفقت او نرم خوی د زندان په څلور ویشت ساتونو کې خپل څارونکی خورا متاثره کړی و. نورزاد وايي، چې د شفیق خونه ورته په پوهنتون بدله شوه. شفیق به ما ته د یو مهربان استاد په څېر د ورځنیو چارو، دین، فلسفې او نورو موضوعاتو په اړه مالومات راکول. نورزاد وايي چې شفیق په زندان کې هم خپلې ظاهري بڼې او نظافت ته ستر اهمیت ورکاوه. شفیق یوه ورځ د کورنیو چارو وزیر له لورې د هلمند د تړون په اړه د یو شمېر پوښتنو د ځواب لپاره غوښتل شوی و. نورزاد وايي، کله چې زه د شفیق خونې ته ورغلم، گورم چې شفیق ږيره خريلې، رسمي لباس يې اغوستی او د بسترې له یوې شلېدلې ټوټې يې ځان ته نیکټایي جوړه کړې.

د شفیق د زندان ملگری وايي چې په لومړۍ شپه یې ورسره د قران د تلاوت په مټ مرسته وکړه. نوموړي به هر ماښام له لمانځه وروسته د بندیانو د ارامتیا لپاره د قران څو ایتونه لوستل. د زندان تر وروستۍ شپو شفیق د قران ډېره برخه حفظ کړې وه. نوموړی له پلازمېنې بهر د دوه نورو کلونو لپاره په خپل کور کې نظربند و. یوازې نږدې ملگرو او د کورنیو غړو یې کولی شو شفیق سره د نظربندۍ پر مهال وگوري. قومندان نورزاد د ۱۹۷۷ په پسرلي کې شفیق ته خبر ورکړ چې له نظربندۍ وځي او په کابل کې یو کرایه شوي کور ته انتقالیږي. داود په خپله تگلاره کې د بدلون له امله شفیق له نظربندۍ خلاص کړ. داود کار پیل کړی و چې ایران، پاکستان او اسلامي هېوادونو سره اړیکې بیا ورغوي. نورزاد چې شفیق سره یې نږدې ملگرتیا پیدا شوې وه ویل، ما د حکومت او شفیق تر منځ د پیغام رسونکي دندې ته ادامه ورکړه. داود به کله نا کله په هېواد کې د روان وضعیت په اړه شفیق د مشورې لپاره ځان ته ورغوښت. زما د

پوښتنې په ځواب کې، چې ددې کتنو لړۍ د چا له لورې پيل شوه، په اړه يې سيد احمد گيلاني داسې وايي:

دواړه لوري مستقيمو خبرو ته لېواله و. له لومړۍ ناستې وروسته شفيق ما ته وويل چې د ولسمشر داود چلند رسمي خو صميمي و. دوی د هېواد په وضعيت بحث کړی و او شفيق ترې اجازه غوښتې وه چې د روغتيايي وجوهاتو له امله له هېواده بهر سفر وکړي[1]. داود ورته په ځواب کې وويل، زه دې پايلې ته رسېدلی يم چې پر تا بشپړ باور وکړم، مگر ما ته لږ وخت راکړئ چې د حکومت نور غړي هم وهڅوم تر څو په تاسې يې باور رامنځته شي. ولسمشر داود د خپلې لومړۍ ناستې پر مهال شفيق ته ويلي و چې د بهرنيو چارو کوم مسوليت به ور وسپاري.

نورزدا ددې خبرې پخلی کوي او زياتوي چې ولسمشر داود شفيق ته وړانديز کړی و چې په ملگرو ملتونو کې د افغانستان د سفير په حيث کار پيل کړي. مگر لږ وروسته د ۱۹۷۸ په پسرلي کې داود او د هغه د کورنۍ ډيری غړي د يوې خونړۍ کودتا په ترڅ کې ووژل شول. نور محمد ترکی، چې پخوا د شفيق ښوونکی و، د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت ولسمشر شو. د ترکي د ولسمشرۍ په څلورمه ورځ يو مامور د شفيق کور ته ورغی چې زندان ته يې انتقال کړي، مامور شفيق ته وويل چې د يوې يا دوه شپو لپاره يې زندان ته انتقالوي. شفيق له دې وروسته هېڅا و نه ليد.

سيد احمد گيلاني د ترکي دفتر ته ورغلی و چې د شفيق د ځای په اړه مالومات تر لاسه کړي. نوموړي ويل، مخکې له دې چې د شفيق موضوع راپورته کړم، ترکي را نه پوښتنه وکړه چې د هغه شاگرد څنگه دی. کله چې ما

---

[1] په زندان کې د شکنجو له کبله د شفيق زنگون خراب شوی و.

ترکي ته وويل چې شفیق ستا د حکومت په ولکه کې دی، ترکی وشرمېد او په چټکی يې ما ته ډاډ راکړ چې ډېر زر به د شفیق په اړه احوال راکړي. ګيلاني زياته کړه، د ترکي غبرګون ته په کتو، زه پوه شوم چې شفیق يې وژلی دی. په دې اړه ډېر زيات ضد و نقيض خبرې شته.

د شفیق د برخليك په اړه تر ټولو مشهوره خبره داده چې نوموړی له کمونېستي کودتا وروسته د جنرال عبدالله روکي سليمان[1] او وحيدالله عبدالله سره يو ځای په پلچرخي زندان کې وژل شوي. خو، يو پخواني افغان ديپلومات چې په تهران کې په خدمت بوخت د شفیق له وژونکو د ځان خوندي ساتلو په موخه يې له نوم ښکاره کولو ډډه کوله ما ته داسې وويل: په ۱۹۸۰ کې په بلغاريا کې افغان سفير عزيز احمد اکبري[2] ويل، هغه مهال چې زه د ملي امنيت دفتر سره وم، زه او ملګري مې پلچرخي زندان ته لاړو او شفیق ته مو وويل چې کولای شي له زندانه کور ته لاړ شي. خو، کله چې شفیق خپله شا زموږ لور ته واړوله چې له زندانه بهر وځي، اکبري خپلو کسانو ته امر وکړ چې شفیق له شا لورې وولی. نوموړي ويل، موږ شفیق دومره وويشت چې په ځمکه راپريوت او مړ شو. اکبري دا روښانه نه کړه چې دا کار يې د چا په امر، که په خپله خوښه کړی.

سرچينې وويل، دا يوازينی وحشيانه کار نه و چې اکبري يې مرتکب شوی و. نوموړي ويل، چې اکبري ورته د هزاره ګانو د ټولوژنې په اړه ډېرې کيسې کړې. اکبري ويل، موږ به د الله اکبر نارې کړې، هزاره ګان به راووتل او فکر به

---

[1] نوموړی د سردار سليمان خان ځوی په ۱۹۲۹ کې په کابل کې زيږيدلی و، په شوروي اتحاد کې د افغان سفارت پوځي اتشه و.

[2] د کابل له پوليسو اکادمۍ څخه په ۱۹۷٦ کې فارغ شوی. په پټه يې د خلق ديموکراتيک ګوند غړيتوب اخيستی و. په ۱۹۷۹ کې د کورنيو استخباراتو مشر شو.

يې کاوه چې ګونډې موږ مجاهد جنګيالي يو. موږ به په دوی د ګوليو باران پيل کړ. اکبري دا ټولې خبرې داسې مهال کړې چې د تهران په انټرکانيننټل هوټل کې د افغان سفارت نورو کارکونکو سره د شپې ډوډې خوړلو ته ناست و. ما لپاره زړه بوږنونکې دا وه چې اکبري دا خبرې په داسې مهال کولې چې خورا ارام او سوکاله و. د خپل وحشت انځور يې داسې انځوروه لکه د مرغانو ښکار پسې چې وتلی وي. ددې ټولو يادښتونو سربېره، د شفيق د مرګ په اړه حقايق تر اوسه نه دی رابرسېره شوی

# لیکوالي او شاعري

شفیق تر ډیره د فقیه او سیاستوال په توګه پېژندل شوی، خو ادبي لاسته راوړنې هم لري. هغه د افغانستان په ملي ژبو شعر او نثر لیکلی دی. د شفیق په اړه عبدالروف بینوا وایي، نوموړی تکړه لیکوال او د پښتو ژبې حساس شاعر و. د هغه د پښتو شعرونو لومړی ټولګه د پیغام په نوم په ۱۹۵۹ کې چاپ شوې. شفیق د پیغام په اړه وایي، ما دا ټولګه داسې مهال لیکلې چې شاګرد وم او د خپل راتلونکي په اړه نه پوهېدم. ددې ټولګې محتوا ډیره برخه پر ټولنه نیوکې ته ځانګړې شوې او موخه یې د ځوانانو راویښول او فعالیت ته هڅول دي.

بینوا د شفیق شاعري په درې برخو ویشي: داسې یو وخت و چې شفیق په خپله شاعرۍ کې د طبیعت ښکلا منعکسه کړې. وروسته یې په شعرونو کې د خپل وخت ټولنیزې ستونزې را ونیولې. کله چې د نورې نړۍ سره وصل شو نو پیغامونو یې نړیواله بڼه غوره کړه.

شفیق په دري ژبه هم شعرونه لیکلي. د نوموړي ځیني دري شعرونه له عالي معیار څخه برخمن دي خو ډیری برخه یې د پښتو شعرونو سره د مقایسې وړ نه دي. هغه په حقیقت کې د دري ژبې شاعر نه دی. برعکس، په دري ژبه کې د شفیق د نثر او لنډو کیسو هنر خورا عالي دی. د هغه لنډې کیسې تر ډیره حده د ختیځ ـ لویدیځ د کشمکشونو په اړه دي. که شفیق فقیه او سیاستپوه نه وی، نو په اسانۍ یې د افغانستان د تکړه نثر لیکونکي نوم خپلولی شو.

په پښتو ژبه د شفیق د لنډو کیسو هنر هم خورا عالي و. هغه د لنډو کیسو پر مټ خپل انتقادونه او ملاحظې خلکو ته وړاندې کړي دي. شمس الدین مجروح د شفیق د ادبي استعداد په اړه وايي: زه شفیق د هغه له ځوانۍ راهیسې پیژنم، هغه په عدلیې وزارت کې زما مرستیال و. هغه یو تکړه لیکوال و. د شفیق یو کتاب (لیونی حکیم) د حکومتي چارواکو تر منځ قهر راپارولی و، او ډیری چارواکو د کتاب منځپانگه شخصي اخیستې وه. دا کتاب د ځوانانو تر منځ ډیر زیات مشهور شو او مهم بحثونه یې راپورته کړي وو.



...آن ویل کیږي، چې پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د یرغل یو لامل د موسی شفیق پروگرامونه وو، که شفیق او پاچا دواړه پاتې وای بیا نو روسانو او د دوی پلویانو دا وخت نه شو پیدا کولای، چې پر افغانستان برید وکړي.
شفیق هیله درلوده، چې سیاسیون د خپلو شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي. هغه غوښتل د افغانستان کورنی او بهرنی سیاست پر تحرک راولي. شفیق د تقابل پر سیاست باور نه درلود او هڅه یې کوله چې د هېواد د پرمختګ او سیاسي ټیکاو لپاره سترو زبرځواکونو لکه روسیې او امریکا سره فلسفي تفاهم ته ورسیږي. ګاونډیانو سره د مشترکو ګټو درک هغه مهمه مسله وه چې شفیق پرې باور درلود، په همدې موخه یې، د ډیرو فشارونو سربېره، له ایران سره د هلمند اوبو په اړه سخته خو بریالۍ معاهده وکړه. شفیق څو بعدي شخصیت درلود، او د خپل فکري انسجام په برکت یې د افغانستان لپاره لوی او ګټور کارونه وکړل...

ISBN 978-9936-647-42-8

سروش کتاب پلورنځی

9 789936 647428